
لوړ قدی انجلی
وراندی کوونکی:سیدادریس سادات
ناول
"دوهمه برخه"
Ketabton.com
Nisal Khan PHOTOGRAPHY
+92-306-5005600

(c) ketabton.com: The Digital Library

**داچی سادات کتابتون کی ډیرو ورونو په دی کتاب پسی تنګ کړم نو اخر می هم درته راوړ سادات کتابتون کی ځانونه هیڅ کړی او ددا ډول کتابونو څخه خوند واخلی**

**دسادات اثار**

**رنځور خامار**

**دسپین غر زخمی مرغی**

**دتورخم لار او واده**

**دبهلول نصیحتونه**

**درنځور خامار دوهمه برخه**

https://chat.whatsapp.com/KwBk2N7x2EzKdT3L9ENDu9

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وړاندی کوونکی :سید ادریس سادات**

**!د سهار لمر په را ختو و؛**
**د جمعې په ورځ به دوکان ته وخته تللم د دوکان په پاکولو**
**.بوخت وم چې ملګري بارکزي غږ را وکړ**
**احمده نن لږ وخته کور ته ځو د سیند تر غاړی به له ملګرو**
**.سره بنډار وکړو**
**بارکزی چې د راز او نیاز ملګری مې و او په یو کلي کې مو**
**کور و، نو ما هم د هغه غوښتنه ومنله او ورته مې وویل**
**سمه ده چې استاد مې دوکان ته راغی د وخته تګ اجازه به**
**ترې واخلم خو هغه پاچا ته هم زنګ وکړه چې هغه هم راشي**
**!چې څو شپېې مو سره خندانه تېرې سي**
**.ویل یې سمه ده چې زه او ته روان شو هغه ته هم زنګ کوم**
**له زیاتو سپارښتنو او روغ بړ وروسته مې بیا د دوکان په**
**پاکولو بوخت شوم، څو شیبې به تېرې نه وې چې استاد مې**
**.دوکان ته راغی**
**استاد به مې ځکه دوکان ته نا وخته راتله ځکه چې د اهل**
**سیک مذهب ټول پیروان تر ناوخته په خپل درمسال کې د خپل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مذهب مراسم تر سره کوي.
استاد به مې یو عادت درلوده چې سهار کې به یې له چاى ځښنلو مخکې خپل مذهبي غږونه چې د بېلابېلو د هماغه مذهب د علماوو په غږ به ویل شوي ول اورېدل او تر مخ به یې د دود امبر یو ډکی هم لګوه، د همدې شېانو په تېارولو بوخت و، هو یوه خبره بله دا هم چې اهل سیک تر زیاته د شګوم په نامه د یو دستور سخت کلک پېروان دي هغوي په سهار وخته کې تر ډېره غوصه او داسې یو کار نه کوي چې د دوي په ذهن دې فشار راشي او دوي دې ذهنن نا ارامه کړي، د همدې موقع څخه په استفادې مې د وخته تګ غوښتنه ترې وکړه، کور یې ودان ځینې وخت به یې زما خبره منله،راته یې ویل چې کله د غرمې لمانځه ته تللې ماته یو زنګ وکړه یا زه درته زنګ کوم بیا دوکان بند کړه او لاړ شه.
تر ډېره به استاد راسره دوکان کې نه و زه او کوچنی ظاهر به کېناستو او شاګردي به مو په پوره باور او صداقت کوله.
ظاهر کوچنی ماشوم و کله به چې د جمعې ورځ وه نو تر ډېره به د درمسال په کوڅه کې د پېربدونکو شمېر کم و نو د به د لوبو کولو غوښتنه را څخه کوله.
په همدې ورځ مې د کوچني ظاهر غوښتنه ومنله زما په فکر یولس یا دولس بجې به وې په کوڅه کې د دوکان ترڅنګ مو د کرکټ د لوبې په کولو پېل وکړ ترڅنګ همسایه دوکان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاګرد حفیظ ته مو غږ وکړ هغه هم له مونږ سره په لوبو کولو بوخت شو .لوبه مو ښه ګرمه روانه وه چې دوکان ته مو د یوې شنې ځادرۍ والا جیګ قدې انجلۍ راغله په سترګي ځان مې ورمنده کړه.

امر وکړه څه مو پکار دي؟

امر نه دی هی

---

امر وکړه څه مو پکار دي؟

امر نه دی هیله ده یو کریم او د دېرش روپو کورکمن مې پکار دي!
سمه ده کریم او کورکمن مې په پلاستیک کې ورته واچول خو له ورخطایې مې د دېرش روپو کورکمن پر ځای د پنځوس 😋روپو کورکمن په تله کې اچولی و

سخت ورخطا وم خو دا خبره مې هم په ذهن کې وه چې خدایه 😊دا بنده به دې په دا ښکلي غږ او لوړ قد څه رکم بشر وي کله چې تلله راته یې وویل د دوکان کارت دې راکړه که کریم دې خراب و بېرته یې در لیږم، ځان سره مې زړه کې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمدا بچېش کار دې وسو 😬 ما ورته د دوکان د کارت تر شا خپله شمېره هم ولیکله او ورته مې وویل دوکان کې تر ډېره استاد را سره نه وي نو ځکه مې خپل د فون شمېره درته هم ولیکله که کریم خراب و نو که خپله نه راتللې نو له کارت سره یې د چا په لاس را ولیږه

لوړ قدې انجلۍ ته مې په تلو تلو کې د پېسو د نه ورکولو خواهش هم وکړ، خو له یوې لنډې مننې ورسته یې پېسې راکړې او لاړه.

له شا مې لکه یو مات انسان ور وکتل، داسې احساس مې وکړ چې ښه کلونه مو سره تېر کړي وي او اوس راڅخه ډېره لرې روانه ده.

خو ذهن دی په یوه ثانیه کې به ډېر ځله په یوه خبره له بېلابېلو اړخونو فکر کوې زه هم همدغه وس وسې نیولی وم.

کله به مې فکر وکړ چې خاا له تا خو دې مشر ورور هم شته اغه به څنګه شي؟

کله به مې یو دم فکر بدل سو له ځان سره به مې ټکان وخوړه چې خدای خبر دا به څه رکم انجلۍ وي اسې نه لکه ایما غوندې بدرنګه وي غږ خو اسې هم د انجونو ښایسته وي نو 😉.

😯کله به مې وویل که د مور مې خوښه نسي بیا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله به مې وویل خدای خبر که په مونږ غریبانو خپل بوټان هم سم کړي.
په همدې سوچونو کې وم چې کوچني ظاهر غږ را وکړ له غږ سره یې یو دم د مینې له غرق خوبه را ویښ شوم هغوې مې په ځان پو نه کړل خو که رښتیا ووایم په کوم شوق چې مې د کرکټ لوبه پېل کړې وه بیا ځلې یې هغه خوند نه و، سخت نا ارامه وم د انتظار شېبې مې شمارلې چې کله به زنګ را وکړي.
ښه پوهېدم چې ورکړی کریم خو مې بدل نه دی خو بیا مې هم همدا سوال کوو چې کاش ربه کریم یې خوښ نسي او یا خراب وي 😬
کوچني ظاهر به بیا بیا همدا یوه پوښتنه کوله چې استاده ښه خو به یې؟
ظاهر کوچنی و په دې نه پوهېده چې مینه څه؟ او زما هم لومړی ځل و چې یو نا لیدلي کس راڅخه په خپل تش غږ له سینې زړه وړی و.
😶ظاهر ته به مې وویل ښه یم څه خبره نسته
لوبه مو بس کړه څو شېبې په فکرونو کې ډوب دوکان کې کېناستم یوه نیمه یا څه باندې همداسې به وې چې د استاد له شمېرې مې موبایل ته زنګ راغی، کله مې چې ټېلفون اوکې کړ د دوکان د بندولو خبره یې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما هم دوکان بند کړ بارکزي ته مې غږ وکړ او د کور په لور روان شو.
خپل ځان راته څه ښه نه ښکار کېده په لاره څه بل ډول روان وم داسې فکر مې کاوه لکه سینه کې چې زړه نلرم.

په لاره څه بل ډول روان وم داسې فکر مې کاوه لکه سینه کې چې زړه نلرم.
له سرک د تېرېدو په حال کې وم چې یو موټر هرنډ وکړ د هرنډ له غږ سره مې ځان او ذهن یو ټکان وخوړه بارکزي له لاس را کش کړم ویل یې ښه یې؟
له هغه به مې خبره نه پټوله ورته مې وویل صوفي بچېش نن سخت بې تابه یم ځان راته داسې بریښي لکه سینه کې چې زړه ونلرم.
د همدې خبرې په کولو موسکی شو ویلې احمده بچېش لکچې لیونی شوې یې څه کیسه ده؟
د لوړ قدې انجلۍ په اړه مې ورته وویل، هغه له ما څخه مخکې په بازار کې څه موده پاتې شوې و نو لږ څه چالاکه وو ډاډ یې راکړ ویلې خدای مهربانه دی.
په کیسو کیسو او قدم قدم روان و دا شېبه فکر کوم دوه بجې به وې یا دوه نیمې به وې، د ګل کریم پمپ ته نژدې و چې فون ته مې له نا معلومې شمېرې زنګ راغی

(c) ketabton.com: The Digital Library

جیب ته مې لاس کړ، ټېلفون مې را وویست او په سترګي غږ
.مې د سلام په کولو ځواب ور کړ
خو له هغه لوري هېڅ غږ نه راتله په بیا بیا مې همدا غږونه
.کول
.که زما غږ اورې ستا غږ نه راځي فکر کوم څه ستونزه ده
څو شېبې مې همدا خبرې تکرار کړې، خو ټېلفون مې چې
وکاته له هغه لوري بند شوې و ما له ډېر فشاره بند ټېلفون ته
.چغې وهلې وې

بارکزي په ټوله لاره را پورې خندلې، خو دومره نه و پوه
چې زه د انتظار سختې تبې نیولی یم او ذهن یې راته ګډ وډ
.کړی دی
څو شېبې به تېرې نه وې چې بیا له هماغې شمېرې زنګ
راغی په ورخطا ځان مې زر اوکې کړ مالې خدای مکړه بیا
.بند نه سي
د تېر په څېر مې یو ځل بیا سلام وکړ له لږ ځنډ وروسته د
.یوې انجلۍ په غږ مې د سلام ځواب راکړ شو
کله مې چې دغه غږ د تېلفون له لاوډسپیکر مغز ته دننه شو
بیا مې هماغه شېبه او هماغه لوړ قد مخ ته ودرېد کوم مې
.چې په اول ځل لیدلی و
زر مې فون بند کړ د بارکزي په اوږه مې لاس کېښود څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شېبې په خپل ځای ودرېدم بارکزي ته مې وويل بيا هماغه غږ و د کوم غږ له لاسه چې نن ګرمې تبې نيولی او ستړی يم.
خو هغه به بيا بيا ډاډ راکوو، ورخطا او ډار شوې ځکه وم چې دا مې لومړی ځل و چې له يوې انجلۍ سره د مينې په نوم د يوې رشتې د پاللو په لټه کې يم او نه مې له دې مخکې انجونو سره موبايل کې خبرې کړې وې.
بېرته مې ورته زنګ وکړ زما شمېره يې اوکې کړه ورته مې وويل ښښنه غواړم څو ملګري مې راغلل نو ځکه مې بند کړ!

---

بېرته مې ورته زنګ وکړ زما شمېره يې اوکې کړه ورته مې وويل ښښنه غواړم څو ملګري مې راغلل نو ځکه مې بند کړ!
ډېره هوښياره او چالاکه وه، ويل يې مشکل نسته!
ور زياته مې کړه څوک ياست؟
ويل يې ته د هندو هغه شاګرد يې؟
د دې خبرې په اورېدو مې په کړس کړس وخندل ومې ويل هو احمد يم امر وکړئ!
ويل يې خواهش کوم امر نه دی! په دې خاطر مې زنګ وکړ چې نن مې تاته ويلي ول که کريم دې خراب او يا بدل و نو بېرته يې در ليږم خو دلته مې د تره لور وکاته ويل يې ښه دی ما ويل صبر چې درڅخه مننه وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مننې په خبره مې زړه لړ را ټول شو ورته مې وويل کور مو
ودان خو د همدې دوه درې خبرو په وخت کې داسې خوله
شوې وم لکه يو وېرېدلی غل.
په ټکني غږ مې ورته وويل.
 څهڅه خدمت نور شته؟
وويل يې کور ودان!
ټېلفون مې بند کړ له خوشحالۍ مې لکه يو شوخ ماشوم اخوا
دېخوا ټوپونه ووهل بارکزي ته مې وويل بچېش زنګ خو يې
را وکړ خو چې اوس بېرته زه ورته په کومه بهانه بيا زنګ
وکړم؟
تر کوره مو ډېرې مشورې وکړې خو هغه راته وويل شپې چې
کور ته لاړې د کوم ملګري د شعر يو بيت ورته وليږه چې څه
کيږي.
په همدې خبرو سره سره کور ته نږدې شو هغه خپل کور ته
لاړ، زه خپل کور ته خو کله چې د کور په دروازې ور ننوتلم
مور ته مې سلام وکړ له سلام سره يې سم راڅخه پوښتنه
وکړه.
زوی جانه ناجوړ خو به نه يې څنګه دې رنګ تک زير دی؟
ورته مې وويل نا نا مور جانې شکر ښه يم فقد نن د کوچي
کاکا له زوی سره پياده له ښاره راغلم لږ ستړی يم نور څه
خبره نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو شپېي مې له مور جانې سره کېناستم بارکزي زنګ وکړ
ویلې د سیند تر غاړې راشه ټول یاران ناست یو د مور جانې
په اجازه د یارانو خواته لاړم تر ماښام قضا مو ښه بنډار وکړ
.او بېرته کور ته راغلو
د ماسختن لمونځ مې وکړ ډوډۍ مې وخوړه غوړۍ مې په
غوږونو کې کړې راډیو مې چالانه کړه ار چې قاسم ایمان په
خپل خواږه غږ همدا یوه خبره کوله سلام زه ار چې ایمان یم
!تاسو نین ټې ون پوښنټ تري اف ام اورئ
د راډیو په اورېدلو بوخت وم چې د مسج خبره مې را یاده شو
زر په خپل بستر کې کېناستم د ذهن او زړه په مشورې مې
.لومړی پیغام داسې کربښې ور ولیږلې
!سلام ستا دې سهار پخېر وي احمده

د پیغام په لیدو سخت خوشحاله شوم وړه مسکا مې وکړه
بېرته مې ځواب لږ وځنډوو فکر مې دا وو چې شک یې لا ختم
شي چې زه یې هره شپېه په انتظار ناست نه یم، دوه یا درې
.دقیقې وروسته مې ورته ولیکل
کور ودان ستاسو دې سهار پخېر وي شپې مې درته پیغامونه
وکړل ځواب دې را نکړ فکر مې وکړ چې زما خبرې حتماً
درباندې بدې لګېدلې دي نو ځکه سهار مې بیا پیغام په دې
خاطر وکړ چې خفګان مو سره ختم شي تاسو زمونږ د دوکان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاک یاست خدای مکړه زړه کې مو څه خبره را نسي؟

نا نا احمده ! هیله کوم تاسو داسې کوم څه بد خدای مکړه نه دي ویلي چې زه دې پرې اندېښمنه او خواشینې سم چې ځواب دې در نه کړم، شپې مې موبایل کې چارج ختم شو نو ځکه مې ځواب درکولی نشو ښښنه غواړم!

هیله کوم د ښښنې وړ نده زه اندېښمن وم فکر مې کوو چې ته خفه شوې نه ووسې خیاا تېره سه ترې یوه هیله کوم خدای دې وکړي چې ته خفه نسې دا نامعلوم غږ راته ښه نه ښکاري ته دا څوم ځل دی راته په پېغام کې په احمد سره غږ کوې که وویاست زه درته څه نوم واخلم؟
نو ستا نوم احمد دی ځکه درته احمد وایم که کوم مشکل وي نور به یې نه وایم

نااا نااا داسې کومه خبره نده ته ډېر ښه کوې همدا مې نوم دی کور دې ودان چې ته مې نوم اخلې خو ستا د نوم په اړه مې وپوښتل کاش بده دربانديې ونه لږیږي!

خیاا کوم مشکل نسته زه خو څه نه کمیږم که ته راته نوم واخلې اصلي خبره دا ده چې په دې ټولنې کې منفي فکرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

!ډېر دي ستا خبره مې درک کړه زما نوم حنا ده

خیاا ډېر ښه حنا، خو هغه ورځ چې دوکان ته راغلې سخته بېړه دې درلودله فکر کوم کور مو لرې دی؟

!هو کور مو لغمان کې دی

خیاا نو دلته دې څه کول؟

.تره کره راغلې وم نو ځکه مې بېړه درلودله

دنده هم لرې فکر کوم څو کتابونه خو در سره ول لکچې پوهنتون کې استاده یې؟

احمده !تاته به څه ښکارم چې کومه دنده لرم؟

ولا په غیب کې څه ووایم خو که رښتیا خبره وي له چالاکی خو راته د کومې رسنۍ ژورنالسته ښکارې
هیله کوم زه ډېرې پوښتنې کوم چې خفه نسې ځکه ځینې پوښتنې مې ستا شخصي ژوند پورې وکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نا نا داسې کومه خبره نسته ما هم غوښتل سره وپېژنو تېره ورځ ستاسو ښه چلند زياته خوشحاله کړم خوښه يم چې سره !ملګري شو نو لازمه ده چې سره وپېژنو

خو احمده دا د ژورنالستې خبره دې په اول کې داسې راته .ښکاره شوه لکه ښه مې چې په اړه معلومات ولرې

نا حنا د معلوماتو خبره نده خو ستا په ښکلي غږ داسې چالاکي له ورايه دا ښکاره کوي چې حتماً يا استاده يې او يا .له کومې رسنۍ سره کار کوې نو ځکه مې وپوښتل

له رسنۍ سره کار نه کوم او نه استاده يم خو د ننګرهار .پوهنتون د ژورناليزم پوهنځي د دويم کال محصله يمه

خا ډېر ښه،خو زما خبره تر ډېره سمه وه ومې ويل حتماً به .ژورنالسته يې

هو احمده کله چې په لومړۍ پوښتنې کې دې ژورناليزم نوم .واخيست فکر مې وکړ لکه مخکې چې دې ليدلې ووسم

هههههه نا هغه مې هسې له خپل فکره وويل ستا د چالاکی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدو.

له بارکزي مې زده کړي ول چې انجونو سره باید تر ډېره خبرې ونه کړې ځکه هغه شکمنه کیږي چې دا لکچې ښه اوزګار خېل دی او همدې ته ناست دی زر مې پسې بل پېغام وکړ.

حنا ډېره ښښه غواړم استاد مې راغی ستا به هم کار وي بیا وروسته درته پېغام کوم له پېژندګلوي دې خوښ شوم مننه چې سره ملګري شو.
ما فکر وکړ چې اوس به ووایي چې .له دې وروسته بیا 👇.لاندینۍ کرښې دي {{ما فکر وکړ چې اوس به ووایي چې

نور پېغام ونه کړې،خو برعکس خبره یې وکړه.
سمه ده احمده ستا په ملګرتیا هم خوشحاله شوم ښه شوه چې سره مو معرفت وشو خو چې کله اوزګار شوې د خپل ژوند په اړه که راته ووایي مطلب تاسو له کوم ځای څخه یاست؟.

د پېغام په لیدو سخت خوښ شوم، هغه ستړیاوې او خفګانونه چې له پېغامونو مخکې مې په اوږو پراته ول داسې احساس مې وکړ چې هېڅ نسته او په ژوند کې مې خفګان تېر کړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدلی نه وی.
بېرته مې ورته پېغام ونه کړ له خپل ځای څخه پاڅېدم یوه وړه مسکا مې وکړه.
په چوکۍ کې کېناستم، استاد مې غږ را وکړ.

احمده بچېش څنګه دې مسکا وکړه مخکې خو زخت خفه وې؟
استاد مې ارجیت سنګه نهایت ښه انسان و کله به چې خفه وم سخت به راته دردېده زما د خوښۍ لپاره به یې تر ډېره کوشش کوو چې ترې خفه نسم، خو هغه هم ځوان و او ما هم نوی په ځوانۍ قدم ایښی و کله کله به مو سره خفګان راته خو د اهل سکه مذهب تر ډېره پېروان په زړه کې کینه نه ساتي.

استاد مې ارجیت سنګه نهایت ښه انسان و کله به چې خفه وم سخت به راته دردېده زما د خوښۍ لپاره به یې تر ډېره کوشش کوو چې ترې خفه نسم، خو هغه هم ځوان و او ما هم نوی په ځوانۍ قدم ایښی و کله کله به مو سره خفګان راته خو د اهل سکه مذهب تر ډېره پېروان په زړه کې کینه نه ساتي.
ډېر خفګان یې د یوې ورځې تر ماذیګره وي ډېر زر پخلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

.کیږي
ورته مې وویل نه استاده کومه خبره نشته هسې یو کار ته مې
زړه خفه وو خو شکر هغه کار وشو .همداسې ورځ تېره شوه
تر ماښامه مې ورته پیغام و نکړ کله چې کور ته لاړم ډوډۍ
مې وخوړله لمونځ مې وکړ خو چې ویده کېدم د پیغام د ځواب
.په اړه مې ښه فکر وکړ چې څه ډول ورته ځان معرفي کړم
زه کمبخت له کوچني والي په کلي کې لوی شوې وم ساده ګک
وم لومړی راتګ مې همدې درمسال ته و، نو په دې ډېرو نه
پوهېدم چې انجونو سره سړی څه ډول خبرې باید وکړي فکر
مې دا وو چې بیبني د کلیوال شک را باندې ونه کړي ځکه د
نن سبا انجونې بازراي خلک سخت خوښوي .مالې که اړیکه
جوړیږي یا نه خو که خبره سوه چې شی چندان په مینه نه
پوهیږي ایسته به مې ډېلټ کړي
.خو زړه مې وکړ ورته مې ولیکل
!سلام حنا
تا پیغام کړی و خو بیبني اوزګار نشوم چې ځواب یې در کړم
.!هیله ده خفه سوې نه ووسې
زه احمد موسی خېل یم اصلاً له لغمان یو خو له تېر څو کلونو
راهیسې په همدې ننګرهار کې مېشت یو ښونځی مې تر
دولسم صنف پورې د خپل کلي په یو ښونځي کې ویلی خو
اوس په التقوا پوهنتون کې د حقوقو پوهنځي د قضاا څانګې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم سمستر محصل يم.
څو ساعته مې انتظار وکړ خو ځواب يې را نکړ.
خوب نه راتله د مجردۍ ژوند و په حجره کې به ويده کېدم
ابمپيتري مې را واخيسته او
سندره مې کراره کراره چلانه،ته صبر کومه سندره وه ...هو
رښتيا دغه سندره تيار سر کې وه.

چې په ما مئېنېدې زه اوس ګرځه ليونۍ
چې په ځان نه پوهېدې ځا اوس ګرځه ليونۍ

نه پوهيږم چې د چا په غږ به وه خو اوس مې بيبني په ياد نه دي هغه پخوانۍ خونده مو نسته اوس هغه خندا ګانې، هغه مستي بس مسلمانه ژوند و تېر شو نو.
تر ناوخته ورته غوږ وم همدا مې بيا بيا اورېدله په سوچونو کې ډوب همداسې خوب وړی وم، سهار مې د پلار په غږ را ويښ شوم پلار جان به مې وخته را پاڅولم چې لمونځ هم وکړم او تمرين ته هم لاړ شم دهغه سخت لوی ارمان و
سهار مې د پلار په غږ را ويښ شوم پلار جان به مې وخته را پاڅولم چې لمونځ هم وکړم او تمرين ته هم لاړ شم د هغه سخت لوی ارمان و چې زوی يې قهرمان ووسي له ما مخکې مې مشر ورور د پهلوانۍ ښه لوبغاړی و وخت نا وخت به مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار سره د هغه د لوبو ليدو ته تللم همداسې تره مې هم، خو کله چې له مشر ورور مې د يوې ناروغۍ له امله ورزش پاتې شو نو د پلار سترګې مې ماته وې چې د زدکړو ترڅنګ بايد دهغه ذوق هم وساتم هر سهار به يې وخته ليږلم ترڅو تمرين وکړم ان کله کله به خپله هم را سره تله.
زه هم پاڅېدم لمونځ مې وکړ د د ورزش بيک مې اوږه ته واچوه په زنګيدلي ځان له کوره ووتلم په لاره لاره مې د حنا له لوري شپني پېغامونه چې زما له ويده کېدو وروسته يې کړي ول ولوستل.

سخت خوښ په دې وم چې په لومړي پېغام کې يې راته ليکلي ول چې احمده.خوښ په دې وم چې په لومړي پېغام کې يې راته ليکلي ول چې احمده.

ډېره ښښنه غواړم شپې لږ وخته ويده کيږم په دې خاطر چې سهار وخته بيا پوهنتون ته ځم نو شپې ستا پېغامونه راغلي ول سخته خواشينې وم کله چې سهار وخته ويښه شوم ځواب مې در کړ دا دويم ځل دی چې ستا پېغام ته په وخت ځواب نه درکوم هيله ده خفه شوی نه وسې.

احمده ته څو بجې پوهنتون ته ځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

.کله مې چې د حنا پېغامونه ولیدل ځواب مې ور نه کړ
سهار وخته و ما ویل پوهنتون کې به وي هسې نا مزاهم شم
ورته خو د ساعت هره ثانیه راباندې لکه ساعت او هر ساعت
یې لکه کال تېرېده،کله چې د غرمې دولس بجې شوې نو له
.ځان سره مې وویل نن باید ورته د مینې اظهار وکړم

خو څنګه؟
څه باید ورته ووایم ؟
لومړی باید له کوم ځای پېل وکړم؟

اوف ډېره سخته وه ډېر مې زړه وکړ خو هېڅ نه کېده چې دا
خبره ورته ولیکم چې حنا زه له تا سره مینه لرم ما ویل هسې
نا ټېلفون راباندې بند کړي او نور پېغام ته هم ځواب را
نکړي،اوس خو ښه ده وخت نا وخت ځواب راکوي او د پېغام
په لیدو او لوستو یې سکون اخلم که دا خبره ورته وکړم
.هسې نا له دې هم بې برخې شم
.ورځې تېرې شوې خبره ان تر جمعو او میاشتو اوږده شوه
هره ورځ به مو په ساعتونو پېغامونه کول حنا د یو
ملګري په شان ګڼلم او ما ورته د خپلې ریښتینې مینې او هغه
درد چې د حنا د نشتون له امله زما په ځان تېرېده نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلی.
د خپلې ریښتینې مینې او هغه درد چې د حنا د نشتون له امله زما په ځان تېرېده نه شو ویلی.

یوه ورځ مې ورته په پېغام کې ولیکل حنا یوه خبره درته وکړم؟

هو احمدا ولې نا هیله کوم ووایه!

حنا خو کېداسې چې ستا د منلو وړ نه وي، خو حنا نور نه کیږي زه نشم کولی هغه خبرې چې باید له اوله مې تاته کړي وای په زړه کې وساتم.

واقعاً ډېره سخته ده کله چې یو چاته د مینې اظهار کوې،خو دا سختي مې په ځان ومنله او زړه مې لکه غر غټ کړ، زه د زړه سره په مشوره کې وم چې د حنا له لوري پېغام راغی.

احمده ووایه، ورخطا دې کړم، یو خو پېغام زر زر نه کوې.ووایه داسې څه دي چې تا تر ننه پورې ماته نه دي ویلي په زړه دې ساتلي او ویلی یې نشې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه نو له ډېرې ورخطايي سخت رپېدم پېغام مې هم نشو کولی سخت خوله وم،خو زړه مې وکړ او په رپېدلو ګوتو مې ورته ،ولیکل چې

!❤️حنا مینه در سره لرم

هغه ډېره تکړه وه په لیکولو کې،د مینې له خبرې سره یې زر .پېغام وکړ لیکلي یې ول

احمده ته ښه یې؟
ستا خپلو خبرو ته فکر دی چې ته څه لیکې؟
!لومړی دې خپل پېغام وګوره چې تا څه لیکلي
د مینې خبره داسې اسانه نه ده خو نه پوهېږم چې تا څنګه دا خبره وکړه؟
ګوره احمده تر نن ورځ چې زه له تا سره کوم پېغامونه کوم د یو ملګري فکر درته کوم خو ته څنګه داسې کولی شې ؟
احمده قسم په رب که ما له تا دا تمه درلوده چې ته دې داسې خبره وکړې که پوهېدای نو له اوله مې در سره اړیکه نه .اوږدوله
هو خو یوه خبره په یاد لره چې تر ننه په دې خبره هیڅوک .خبر نه دي ان زما د راز نږدې ملګري هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما پلار وفات شوی زما او زما د کورنۍ پالنه زما د ورونو په لاس کې ده که کوم وروړ مې په دې خبرې خبر شول نو، نه به تاته ښه وي او نه ماته هیله کوم بیا دا خبره مه کوه او بله دا چې ستا شمېره مې د یوې صنفی په نوم په ټېلفون کې ثبت کړې ده او هر پیغام دې له لیدو وروسته پاکوم که په دې هم خبر شول چې دا د یو هلک شمېره ده نو یو خدای پوهیږي چې څه بدې ورځې به وګورم .مینه کول اسانه خبره نه ده او احمده ته هم له ځان سره فکر وکړه!.

ببېرته مې ورته ولیکل.

نا حنا ته چې کوم ډول فکر کوې زه له هغو کسانو نه یم چې ستا په ژوند به لوبې وکړم،زما او ستا مینه به ریښتینې مینه وي که د سر په بدله هم وي زه به ستا په ملتیا د دغې مینې پالنه کوم.
خو احمده زه نشم کولی
خو احمده زه نشم کولی چې ستا دا خبره ومنم که ته ډېر ټینګلر کوې او داسې وي نو هیله کوم نور ماته پیغام ونه کړې او کوشش هم مه کوه چې له ما سره اړیکه ونیسې!

د حنا په دې قهرجنو خبرو سخت خواشینی شوم ډېر پیغامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

.مې وکړ خو ځواب یې را نه کړ
هره ورځ به مې په وار وار ورته پېغامونه کول خو هېڅ
ځواب یې نه راکوو ان دوه درې هفتې همداسې په مسلسل
ډول مې ورته ډېر عذرونه وکړل د مینې په اړه مې ورته وویل
خو حنا نه پوهېږم ولې نه منله؟

شپې او ورځې به په همدې سوچونو تېرېدې چې حنا به څنګه
وي؟
څه به کوي چېرته به وي؟ ځان راته بیبنې نیمګړی ښکاره
.کېده
په دوکان کې مې له استاد سره اړیکه هم خرابه شوه د تېر په
.خبر به دوکان ته هم سم نه تلم
په کور کې مې هم چلند بدل شوی و، چې له دوکان به کور ته
لاړم د کورنۍ له غړو سره به هېڅ نه کېناستم ټوله شپه به
مې ځان ته همدا ښېرې کولې چې ولې مې دا خبره وکړه ژړل
به مې، خو هېڅ مې په لاس نه راتله له ملګرو سره مې هم
.ناسته ولاړه د تېر په څېر نه وه
.د حنا نا لیدلې څهرې او مینې سم لیونی کړی وم
.له څو اونېو وروسته مې بیا ورته پېغام وکړ
احمده ما مخکې هم درته ویلي ول او اوس یې هم وایم چې د
مینې په اړه راته نور پېغام مه کوه ممکن له دې ور اخوا خفه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**!شو ډېر تېنګار مه کوه**
**ځکه اوس وخت کې په هیڅ اعتبار پکار نه دی خو ته چې کومه غوښتنه کوې په دې ښه فکر وکړه دا کومه وړه خبره نه ده چې له یوې غلطۍ وروسته به په عادي ډول ژوند وکړې.**
**د دې رشتې نوم کمکی خو تر شا یې ډېرې غټې خبرې او کیسې پرتې دي په دې پوه شوه!.**

**نااا حنا زما مقصد ستا په ژوند لوبې کول نه دي زه پوهیږم ټولنې ته په لیدو زه هم ستا په فکر کې بد انځور شوی یم خو دا په یاد لره چې کوم فکر ته لرې زه هغه ډول نه یمه.**

**خو احمده زه نشم کولی، دا خبره تاته وړه ښکاري خو زه یوه پښتنه انجلۍ یم که کورنۍ او یا کوم خپلوان مو خبر شي نه پوهیږم څومره تاني او پېغورونه به راکوي زمونږ په قوم کې له دې کیسو خلک ډېر ځان ساتي هیله ده احمده له دې خبرو تېر شه له څو اونیو را په دې خوا چې تا کله دا خبره کړې باور وکړه ژوند مې څه بل ډول دی هیله کوم احمده په سپینه لمنه مې تور داغ مه پورې کوه هیله کوم!**
**حنا ته صرف باور ولره او دا خبره مې هم واوره چې مینه د یواځې...**

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمده په سپینه لمنه مې تور داغ مه پورې کوه هیله کوم!

حنا ته صرف باور ولره او دا خبره مې هم واوره چې مینه یواځې د انساني شهوت پوره کول د مقابل لوري پر وړاندې نه دي ته صرف یو ځل د مینې په نوم ځان پو کړه مینه حنا د یو انسان له لوري بل انسان ته خاص احترام ته وایي

احمده!
ها ووایه اورم!

اوس له پوهنتون را غلم سر مې سخت درد کوي وروسته خبرې کوو نور مې مه تنګوه خبر دی ته فکر وکړه ګوره بیا یې وایم چې دا وړه خبره نه ده ټوکه یې مه ګڼه دا پښتنه ټولنه ده او د لته د مینې خبرې د سر په بدل کیږي هغه څوک چې مینه کوي هغوې یې پالنه هم د سر په بدل کوي ته بیا هم فکر وکړه!

سمه ده حنا ته دې ارام وکړه بیا خبرې کوو خو په تلو کې مې دا خبره یاد لره چې احمد یو لویدلی انسان و تا بیا را پورته کړ او دا دې ورته وخودل چې هېڅ وخت مه نا هیلی کیږه هماغه احمد دی مخ ته ولاړ دی .خبر دی، احمد دې ته مه پریږده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بیا دې ړنګ شي!

احمده قسم کوم چې زه حتا داسې یو کس نه لرم چې زه دې ستا د غوښتنې په اړه ور سره مشوره وکړم دا ډېره درنده خبره ده زه په یواځې ځان دا پرېکړه نشم کولی د کورنۍ غړو ته خو یې بیښي ویلی نشم خورګانې مې له نورو په ما ډېر اعتبار لري که هغوې ته دا خبره وکړم بیا به وایي چې ته درس ته هره ورځ ځې که مینې کولو ته؟
ورونه او مور خو مې لا پریږده هغوې ته خو بیښي ور کتلی نشم.
خو نن مې هماغه تره منږ کره راځي هغه زه یې چې ننګرهار کې کور ته تللې وم د هغه یوه لور ده زه له هغې سره ستا د غوښتنې په اړه خبرې کوم.
خو احمده ته دا را سره ومنه که مې ځواب منفي و په ژوند کې بیا راته نه پېغام وکړې او نه بیا د داسې خبرو کوشش وکړې چې زما ذهن دې نا ارامه کړي.

سمه ده حنا ته خو تر ماښامه وایي زه دې د ژوند تر پایه په انتظار یم چې کله دې هغې سره خبره شریکه کړه د پرېکړې په اړه دې ماته ووایه زه دې شپې ته په انتظار یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمه ده.
حنا چې کله د پرېکړې خبره وکړه لګ مې زړه ارام شو خو نیمه ورځ له که کال تېره شوه.
کله چې له دوکان کور ته لاړم ماښام قضا به و چې ملګري ادریس یعقوبي زنګ را وکړ.

احمده سلام وروره.
ع سلام جناب یعقوبي صیب!

احمده وروره نن شپه په کلي کې د جمیل د ورور واده دی او ملګرو ته یې پروګرام هم نیولی که راتلی شې نو راشه څو شپېبې به سره بنډار وکړو..
🌹

ادریس یعقوبي چې یو خوش اخلاقه او تکړه ځوان و او زمونږ د کلي د ځوانانو د شورا مشري یې هم درلوده نو د پلار او مور په اجازې مې د هغه غوښتنه ومنله او ماښام له ملګرو سره د جمیل دوې کور ته لاړو.

یاران ټول سره را ټول ول کله مو چې ډوډۍ وخوړله پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

شروع شو.
استاد نواب و چې په خپل خواږه غږ يې د يو ارمانجن بلبل ملي او ولسي شاعر اروښاد ملنګ جان خوږې غزلې ويلې زه د حويلی په يوې څنډې کې غلی ناست وم شېبه به تېره نه وه ما به د ټېلفون سکرين ته کتل په همدې انتظار وم چې کله به حنا پيغام کوي؟
کله به راته ووايي چې احمده مينه در سره لرم.
ذهن دی ډېر زر فيصله کوي او لوړو ژورو خيالاتو ته دې وړي د موبايل د سکرين رڼا حک حېران او په سوچونو کې ډوب کړی وم چې د ملګرو له ډلې مو يو غږ وکړ چې استاد هغه سندره که د ملنګ جان بابا ووايې.

ته د ناز په خوب ويده وې ما ژړل
ته بې غمه اسوده وې ما ژړل

همدا کرښې به لا خلاصې نه وې چې د موبايل سکرين مې رڼا وکړه کله مې چې وکتل د حنا پيغام راغلی و زر مې د پيغام بکس خلاص کړ د حنا پيغام مې وکاته ليکلي يې ول.

سلام احمده ښښنه غواړم کور کې مو ميلمانه ډېر ول هېڅ موقع مې پيدا نکړه چې پيغام درته وکړم شپه نا وخته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدای شي ویده هم ووسې.

کله مې چې پېغام وکاته زر مې ورته پېغام وکړ مالې اوس
ویده نه شي انتظار خو هسې هم رانه لیونی جوړ کړی چې دا
شپه پرې لا بله را شي نو بیبني به خراب شم.

سلام حنا هېڅ خبره نسته زه دې انتظار وم تا څه وکړل
پرېکړه دې وکړه؟
🌹🌹🌹🌹🌹ه

سخته ژړا یې وکړه ویل د مینې په اړه مې ډېر لیدلي او
اورېدلي خو احمد ډېر خوږ او په ځای غږېږي ځواب خو یې
مثبت و نو.

ښه حنا نو زر ووایه اوس!

احمده څه ووایم؟
حنا هغه څه چې ما درته ویلي ول هماغه خبره؟

ښه سمه ده احمده له نن وروسته زه او ته سره ملګري یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

!نااا حنا د ملګري توب خبره نااا
خااا نو څه ووایم؟

هغه څه ووایه چې زه یې له مودو را هیسې په انتظار یم
---------
احمدا نه پوهېږم ته کومه خبره ښایې ځا ته یې اول ووایه بیا
یې زه وایم سمه ده؟

نااا حنا ته یې ووایه ما خو له اوله درته څو ځلې وویل اوس
!یې ته ووایه

!.احمده خو فکر وکړه ومې ویل
!نااااا حناااا ووایه

!احمده
!اه جان اورم

❤️مینه در سره لرم
خو احمده له همدا اوس یې درته وایم چې لومړی ځل دی چې
مینه کوم کاش ته د هغه انسانانو له ډلې ووسې کوم چې ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښته.

احنا جان مې!
زه چې تر څو ژوندی یم تر څنګ به دې لکه یو غر ولاړ
ووسم ستا خوشحالي او هیلو ته دې رسول به زما ستر هدف
وي ستا خوشحالي زما خوشحالي ده.

کاش همداسې ووسې تر پایه زه هم پښتنه پېغله یم له تا پرته
به مې زړه کې بل څوک ځای نه کړم او هېڅ وخت به مې د
خپل احمد سترګې چاته ټیټې نه کړم.

احنا!
قرباااان❤️
یوه خبره!
کومه خبره؟
حنا په لومړي ځل مې چې ولیدې دوکان کې او ستا ښکلی غږ
مې واورېده باور وکړه سخت ورخطا شوی وم که دې فکر
شوی وي د دېرش روپو کورکمن پر ځای مې د پنځوس روپو
کورکمن درکړی و هههههههه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو یاد مې شي زما درته فکر وو چې سخت زر زر دې لاس خوزوو د څادرۍ لاندې مې درته پټ پټ خندل زه پوه وم چې ورخطا یې ههههه.
خو احمده لومړی ځل مې و چې په یواځې ځان خرید لپاره ښار ته راغلې وم هغه هم له پوهنتون نه راتلم د تره لور مې هماغه رابعې زنګ کړی و چې کریم راوړه او کورکمن هم.

ههه هو والا ورخطا خو وم خو ما ډېر کوشش کوو چې ته را باندې پوه نه شې،خو تا د خندا خبره وکړه چې ته پټ پټ را پورې خندلې ما نه لیدلې تا لکه د ملا لور ځان داسې پټ کړی و چې توبه توبه.

ښاااا حنا اوس نو راته رښتیا ووایه چې کور مو چېرته دی؟
احمده دروغ او رښتیا یې له کومه شول له اوله مې درته وویل کور مو لغمان کې دی او ننګرهار پوهنتون کې د ژورنالیزم پوهنځي کې یمه.

😊!ښاااا بدرنګې

ای دا بدرنګه دې چاته وویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

❤️ خپل زندګي ته مې
احمدا دا زندګي دې لا پکې څوک شوه؟

ليونۍ تاته مې وويل ولې ته مې زندګي نه يې؟

هههههه احمده خندوه مې مه کور کې ميلمانه دي هسې نااا د چا راته پام شي.

احمده!
❤️قربان

کور کې مو ميلمانه دي هغوې سره څو شېبې کېنم او بيا ويده کيږم چې سبا سهار وخته بيا پوهنتون ته ځم اجازه ده ژوند مې؟

هو زندګي مې ځااا ويده شه خو چې سهار پوهنتون ته تللې ما هم را ويښ کړه چې تمرين ته لاړ شم!

سمه ده ژوند مې چې سهار تللم له خوب به دې زه را ويښ کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[!سمه ده زه په ته يم د اوس لپاره په ځان پام کوه

!سلام سهار پخېر

له خوب خو را ويښ شوی نه يې؟

تاته وايم،ځواب را احمدوو ځواب را

اوفففف نو دا څه رقم خوب دی؟

د حنا له لوري ډېر پېغامونه راغلي ول د اخري پېغام په غږ را
.ويښ شوم

سترگې مې له خوبه ډکې وې .يو خو چې په ژمي کې له خوب
را ويښ شې پوره نيم ساعت په حال وي سړی زه هم
زنگېدلی له خوبه راجيگ شوم حنا ته د دې پر ځای چې
وليکم هو حنا ورته مې ليکلي ول هو پلار جانه را ويښ شوم
😃ځکه هره ورځ پلار را ويښولم

(c) ketabton.com: The Digital Library

.هههههه له اوږدې خندا ورسته يې ليکلي ول
زندګي مې لکچې اوس هم په خوب کې يې ته دې پيغام وګوره
چې څه دې ليکلي؟

د حنا د پيغام په ليدو مې له سترګو خوب والوته، خپل پيغام
مې وکاته په خندا شوم ورته مې وويل هو والله په خوب کې
.وم ځکه مې د حنا جانې پر ځای پلار جان ليکلي ولی

هيڅ خبره نشته،هله نو چمتو شه چې لمونځ قضا کيږي تمرين
ته به هم ځې يو خو زر را ويښ نه شوې قواره ګک مې په ما
.😉دې هم نا وخته کړه

.خا خا پلاره سمه ده

احمده ځنګه شو لمونځ دې وکړ؟
احمده ځواب را څه شوې احمدوو بيا ورک شوې؟

.دا يم نه يم ورک شوی لمونځ مې کوو

.زر شه زه دا دی حرکت کوم ته هم روان شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمه ده بدرنګي.

ای احمده دا بدرنګه راته مه وایه دومره خو بدرنګه هم نه یم لکه څومره چې ته راته هر ځل امدا بدرنګه او بدرنګه وایې هن 😉

اوف د انجونو دغه کارونه دي نو سهار وخته کې دې نازونه شروع کړل مړااا قوارې له نازه یې درته وایم😊

ای بدرنګې په لاره راته څواب راکوه اسې نااا څوک دې ونه تختوي.

نااا قواره ګک مې ته بې غمه شه.

ښه سمه ده پخبر ورسیږې.

احمده دا دی له کور څخه مې حرکت وکړ رکشه کې تر چوکه پورې ځم هلته بیا د پوهنتون موټر راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوففف احمده دلته د عبدالله په چوک کې په تم ځای کې ولاړه یم له یوې خوا پوهنتون نا وخته دی او له بلې خوا دا د پوهنتون موټر اوس ورک دی.

حنا ته پیغام کې خپل احوال راکوه که مې وخت پیدا کړ د تمرین په وخت کې دې هم پیغام ګورم د اوس لپاره ښه وخت ،لړ انتظار وکړه موټر به راشي زه هم دا دی کلپ ته ورسېدم په ځان پام کوه!

خو ژوند مې که وایې د تره زامنو ته مې زنګ ووهم ننګرهار کې پوهنتون کې دي او هره ورځ له لغمان څخه موټر کې راځي که وایې هغوې به دې راوړي له ځان سره؟

نااا احمده که بله ورځ تللم بیا یې درته وایم.

ښنااا سمه ده زه به دې شمېره ورکړم ډېر ښه هلکان دي یو یې شریعات پوهنځي کې دی او بل یې ژورنالیزم کې که څه خبره یا کار و بیا ورته ووایه.

سمه ده ور یې کړه چې زنګ یې وکړ ورسره به اړیکه کې شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمه ده زندګي مې.

احمده دا دی موټر راغی ته دې تمرين وکړه زه احوال درکوم.

زه په تمرين کولو بوخت شوم خو حنا د لارې ټول حال راته په پېغام کې لکه د يوې رسنۍ کارمنده چې وي او د پېښې له ځايه رسااا غږيږي وخت په وخت ليکل.

احمده، دا دی د عزيز خان کڅ ته ورسېدو، دلته د اروښاد ګل پاچا الفت مکتب ترڅنګ يو ډله خلک ولاړ دي او د خلکو پر مخ يې لاره بنده کړې ته صبر زه پوښتنه وکړم څه خبره ده؟

احمده د خلکو په وېنااا په دې سيمه کې د نا پېژنده کسانو لخوا د دې سيمې له خلک او د لارې موټرونه په غېر قانوني ډول تلاشي کيږي.
نو ځکه خلکو لاريون کړی او لاره يې د خلکو پر وړاندې بنده کړې تر څو غږ يې حکومتي چارواکو ته ورسيږي.

نو ځکه مونږ هم په ډېرې سختۍ له دې ځای څخه را تېر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمده زه پوهنتون ته ورسېدم کله چې رخصت شوم بیا خبرې کوو په ځان دې پام کوه ژوند مې.

کله چې له تمرین خلاص شوم د حنا ټول پیغامونه مې ولیدل ځینو ته مې ډېر وخندل.

د مینې سلسله روانه وه د پیغام کول او ځوابول مې لکه دنده داسې عدا

[5/29, 17:45] Sadat: # د_لوړ_قدې_انجلۍ ناول پنځلسمه برخه

وړاندې کوونکې🌹سترې اروا پوه🌹ک. کلیوال🌺

ای بدرنګې اوس خو به دې غوصه سړه سوې وي؟

احمده! توبه توبه ما کله غوصه کړې؟

نااااا د غوا... زر بیا د ملایانو پیښنې شورع کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توبه توبه😏

داسې نه وايم چې تا غوصه کړې ده.

مالې د زنګ وهلو اجازه خو را کړه اوس خو مو خبره سره يوه ده په دا پېغام کولو مې نور د موبايل د بټنو رنګ ختم کړ.😊

زما او د حنا مينه خوږه او يوه پاکه مينه وه په کم وخت کې مو سره ډېر خواږې او له مينې ډک پېغامونه کول.

په ډېرې مينې يې ليکلي ول.

جان جان ولې نااااا امممم😊

د پېغام په ليدلو سخت خوښ شوم زرمې پسې زنګ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلام حنا! ښه يې ګرانې؟

هو احمدووو ښه يمه ته څنګه يې؟ ښمور جانه دې پلار جان دې ورونه ټوله کورنۍ ښه ده؟

مننه ټول ښه دي!

ليونۍ ستا غږ چې واورم هر څه مې هېر سي مور جانه دې ورونه دي نورې خوېندې ټول ښه ياست؟

اوو رښتيا هغه رابعه څنګه ده له هغې احوال لرې؟

شکر ټول ښه دي رابعې تېره ورځ زنګ کړی و څو شپې ور سره وغږېدم داسې ښه نه غږېده چې څه خبره به وي.

انشاالله چې خېريت به وي ته ترې پوښتنه وکړه که زما اړوند کوم خدمت و بيا يې حتماً ماته ووايه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمده!

تا مخکې وویل چې ستا د غږ په اورېدو مې هر څه هېر شي؟

هو همداسې ده والا!

خو احمده هغه د مشرانو خبره دې نه ده اورېدلې چې عاشقان وړانده او کاڼه وي چې خپلې مینې ته مخامخ شي بیا نه څه ګوري او نه څه اوري.

یاره حنااا که ربښتیا ووایم له دې مشرانو خو والاکه یوه خبره هم پاتې وي وایم ربښتیا یې ویلي لکه څنګه چې دې ووېل همداسې ده زه چې کله له تا سره پېغام کوم بیا مې هر کار هېر وي او غږ خو دې اسې هم کاڼې کړي نو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای بدرنګې که سبا وشو د جمعې ورځ ده دوکان ته نه ځم که وشو د تره د کور په بهانه لغمان ته درځمه که کیږي ته هم په کور کې یوه بهانه وکړه په ښار کې به سره وګورو!.

ناا احمده ته اوس مه راځه کومه بله ورځ راشه ممکن زه ونه شم کولی چې درشم ځکه په دې ورځو کې مې هسې هم کور کې له ورونو سره اړیکې خرابې شوي هسې نااا ومې څاري او پو شي را باندې.

ای بدرنګې هېڅ خبره نسته زه یم هېڅ مشکل به انشاالله نه جوړیږي.

احمده ومې ویل مه راځه زه که مړه هم یم په هغې دنیا هم ستاااا یم نو تلور څه ته کوې؟

سمه ده حنااا زه درتللم ما وویل بیا ګیله ونه کړې چې راغلی وې او ماته دې ونه ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمه ده دا خبره دې منم خو احمده زما ومنه مه راځه حالات خراب دي خدای مکړه لاره کې څه دربانديږ ونه شي.

خیاا سمه ده حناا دا چې ته ټینګار کوې نه درځم!

احمده که ته ورخطااا يې چې زما څهره ووينې نو له همدا اوس يې درته وایم چې ښه په مړه خبټه بدرنګه یمه.

نااا لیونۍ د بدرنګ توب او ښایسته توب خبرې پکې لا له کومې خوا راغلې.
ما درته له اولې ورځې ویلي ول چې د یو انسان لپاره تر ټولو ښه ښایست د هغه اخلاق او صداقت کېدای سي.

او بله دا چې زه چېرته داسې شهزاده یم!.

نااا ماته زما احمد له شهزاده هم زیات ښایسته دی، پام کوه بیا دا خبره ونه کړې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هاهاهاها زندګي مې ملنډې مه وهه!**

**نااا احمدو مې ولې ملنډې ووهم همداسې ده کنه😏**

**خيااا چې ته وايې سمه ده نو پلاره❤️**

**خيااا حنا سبا لغمان ته نه درځم که وشو کومه بله ورځ به درشم او سره به له نږدې وګورو.**

**بلکل همدا خبره دې سمه ده احمده!**

**ګرانې شپه نا وخته ده ستاسو هم مېلمانه دي هسې نااا څوک درباندې پو سي او زما هم ډېر خوب راغلی که ستا اجازه وي زه به خوب کولو ته ځان چمتو کړم؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو احمده هغه مورنۍ نیا م راغلې ده ورځم چې څو شېبې ور سره کینم چې بیا سختې ګیلې کوي او اغه بله خو اسې هم هره دقیقه زاپسې وي او ژاړي مې.

ښه شپه ژوند مې✌❤

کله چې د حنا له لوري اړیکه پرې شوه له ځان سره مې فکر وکړ چې حنا ولې زما د لغمان په تګ د نه راتللو ټینګار کوي او ولې دومره ورخطاا وه؟په همدې فکرونو خوب وړی وم.

خو کله چې سهار وخته له خوب را پاڅېدم لغمان ته مې د تللو تکل وکړ تر څو د حنا د ټینګار او ورخطایۍ لامل معلوم کړم.

له کوره چې ووتلم حنا ته مې په پېغام کې ولیکل.

[5/29, 17:45] Sadat: # د_لوړ_قدې_انجلۍ_د ناول شپاړسمه _برخه❤

وړاندې کوونکې🌹ستړی اروايوه🌹ک.کلیوال🌺

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تېرې برخې اخري ټکي دغه دي.

خو کله چې سهار وخته له خوب را پاڅېدم لغمان ته مې د تللو تکل وکړ تر څو د حنا د ټینګار او ورخطایۍ لامل معلوم کړم.

نوې برخه دغه ده👇

له کوره چې ووتلم حنا ته مې په پېغام کې ولیکل.

سلام حنا زه لغمان ته درځم ښار کې به سره خبرې وکړو.

شبېبه تېره نه وه حنا پېغام وکړ د تېر په څېر یې بیا هماغسې ټینګار کوو تر څو زه لغمان ته لاړ نه شم، خو دا ځل مې هېڅ د هغې خبره ونه منله او لغمان ته مې حرکت وکړ.

عطاا ته مې زنګ وکړ هغه ته مې وویل چې کور کې ووایې چې زه لغمان ته تره کره مې لاړم.

عطاا مې کوچنی ورور و پلار ته خو مې زنګ کولی نه شو ځکه هغه ډېر وخت زمونږ په تګ لغمان ته یواځې ټینګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوو چې لاړ نه شو.همداسې روان شوم کله چې لغمان اډې ته را ورسېدم ډېر ځله مې زړه کې همدا خبره ګرځېده چې لاړ شم یا نا؟

خو بل ډول فکرونه مې ذهن ته راغلل کله به مې وویل چې کیسه څه ده ایا حنا له ما سره مینه نه لري یا کومه بله خبره ده.

همدې فکرونو مې ذهن ته راتلل زه همدې فکرونو کې وم چې یو لغمانی ډرېور مې ترځنګ راغی پوښتنه یې وکړه.

وروره لغمان ته که ځې مخکې سیټ را سره خالي دی راځه فقد یو کس ته ضرورت دی او نور پخېر روانیږو.

ما ور زیاته کړه استاد هو لغمان ته ځم خو زه په موټر کې یواځې ځم مطلب دربس ځم.

په خندا شو د سترګو په بغلونو او تندي کې یې ګونځې د ورکې خندا له امله را پېدا شول په خوږه او ښښنې لهجه یې وویل.

وروره ډېره ښښنه غواړم زمونږ ډرېورانو همدا کار دی چې یو کس هم نه وي وایو رواني دی زیاته ښښنه غواړم ما سره نوره سورلی نسته که وایي دواړه به دربس لاړ شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډرېور ماما څهره او خبرې زختې خوړې را باندې ولګېدې په مسکانده څهره مې ورته وویل استاد ډېر ټوکي يې؟

بیا يې په کړس کړس وخندل لاس يې پورته کړ پنجه يې په کلکه زما په پنجه کې ووهله داسې فکر مې وکړ ما وویل لکه له مخکې مې چې ښه پوخ انډیوال وي.

ویل يې څه وکړو روزګار جوړ نه دی مجبور یو چالاکي وکړو تر څو یو څو روپۍ کار وکړو.

په دې خبرو راته لا ګران شو ځکه زه خپله د خپلې غریبۍ له لاسه د هندو شاګرد شوی وم او همت مې کوو چې خپلې کورنۍ ته یو څو روپۍ وګټم ورته مې وویل ښه کوې استاد.

خو لنډه يې دا چې خبره مو سره وکړه سړی ډېر ځوان تبیعته و په څلور سوه روپۍ مو سره خبره خلاصه کړه د موټر په طرف پې روان شو سپینه کورولا يې در لوده.

کله چې موټر کې ور سره کېناستم اول مې ترې د ټايپ پوښتنه وکړه ورته مې وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**استاده ایا ټایپ لري چې یو نیم دانه سندره خو سره تر هغه ځایه واورو؟**

**شوخ مزاجه استاد وویل ولا وروره اوس خو سره یواځې ناست یو څه به درته دروغ وایم ته هم ځوان یې د چرسي سړي موټر دې وي او اغه دې اوپرو والا ټایپ ونه لري هاهاهاها.**

**اووو استاد ته خو والا د کار سړی یې مطلب یګان سګرټې هم وهې؟**

**هو والا ورور.**

**موټر ته یې حرکت ورکړ کله چې لارې ته سیده شو خپل موبایل مې را وویست د ټایپ بلتوت مې ان کړ او د خپله غټ موبایل بلتوت مې ور سره ونښلو د سندرو ځای ته لاړم د استاد سلیم مروت سندره د لیست په سر کې وه ایسته مې اول هماغه چالانه کړه.**

**زما په فکر د افګار بخاري صیب کلام و، خو یو بیت مې لا تر اوسه په ذهن کې شته چې ویلي ول.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې ته ووايئ چې يو ځل دې په بام وخيژي
په زنکدن يمه چې ساه مې په ارام وخيژي

د لوډسپيکرو اواز تيټ و لاس مې ور اوږود کړ اواز مې ورته ځلوښتو ته پورته کړ.
استاد ارام  جب ته لاس کړ او د سګرټو له ډبي يې ډک سګرټ را وويست فکر کوم له مخکې يې ډک کړی و.

اجازه يې راځخه واخيسته ما ور زياته کړه استاد راځه پرې منږ به هم در سره يو لوګی ووهو.

سګرټ مو په ګډه ووهه خو سږی راته ښه پوخ عملي ښکاره کېده ځکه ما څو لوګي ووهل او اغه د ظالم بچي تر اخره را کش کوو موټر په لوګو کې سخت پټ شوی و، زر مې د موټر شيشې ښکته کړې تر څو لوګی بېرون له موټره ووځي او لاره کې د امنيتي کسانو پام تر مونږه نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افکار صیب غزل مو د سلیم مروت په غږ لا فکر په بله کړ دواړه په سوچونو کې ډوب و استاد له ما پوښتنه وکړه.

ځوانه خېریت خو دی ځنګه په دا شین سهار لغمان ته روان یې؟

سر مې لکه بېللی جوارګر ور وخوزو په سترګی او ټیټ غږ مې ورته وویل خپلوان مې هم لغمان کې دي خو استاد کیسه ډېره اوږده ده خو لنډه به یې درته دا ووایم چې.

[5/29, 17:45] Sadat:

د_لوړ_قدې_انجلۍ_د..ناول_وولسمه_برخه😊#

وړاندې کوونکې 🌹سترګی اروا‌پوه🌹ک.کلیوال🌹

#د_تېرې_برخې_اخري_لفظونه👇

استاد کیسه ډېره اوږده ده خو لنډه به یې درته دا ووایم چې

#نوې_برخه👇

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په یو نا لیدلي بشر مې زړه بیللی نن مې اول ځل دی چې د ترونو د کور په بهانې د هماغې انجلۍ لیدو ته ځم.**

**زیر زیر یې را وکتل د هوتخېلو په لهجه یې وویل خدایه له اسمانونو دې جاررشم!**

**هاهاها په خندا شوم ورته مې وویل استاد ته هم هوتخېل یې؟**
**هو هوتخېل یم خو ته څنګه پوه شوې؟**

**زما مور د لغمان له هوتخېلو ده او پلار مې د لغمان له موسئ خېلو څخه دی، خو د ترونو کورونه مې په مرکز ګلکارېو کې دي،د پلار په وېنا مې زمونږ نیکونه اصلاً د لغمان له اوزبین څخه دي خو له پخوا دلته راغلي او اوس یې تذکیرې هم د همدې ځای په نوم اخیستي دي خو که استاد ووایم پلار مې وایي چې موسی خېل، جبارخېل، سهاک، همداسې پسې نور قومونه اصلاً د احمدزېو قوم پورې مربوط دي ممکن تاته هم څه نا څه معلومات وي ستا خو اسې هم همدې ځای کې کور دی؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې مخې ته يې کتل په غرق د بې خودۍ حال کې وم غږ يې هم لږ لږ زما تر غوږونو راته سم نه پوهېدم چې څه وايي خو دومره پوه شوم چې وې ويل.

ولا وروره زه سهار خپل کار پسې را اوځم او ماښام ځم په خدايي که مې د خپل قوم په اړه معلومات وي.

د موټر شترنګ ته يې په زوره ډب ورکړ سر يې پورته ونيوه او په زوره زوره يې وخندل.

د ډرونټې تونل ته چې کله را ورسېدم خپل کوچنی ساده موبايل مې را وويست حنا ته مې پېغام وکړ.

حنا يوه پوښتنه وکړم؟

حنا زر جواب را زه لاره کې يم اخوا بيا زما شمېره کار نه کوي!

سلام احمده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمده دا خبره له کومه شوه چې ته د پوښتنې کولو لپاره له ما اجازه اخلې ما کله ته منې کړی یې چې له ما مه پوښته؟

حنااا زه په تا ډاډه یم خو ویل یې ښه ول زه نن ستا له اجازې پرته در روان شوم ما ویل هسې نا په تا بده ولګیږي.

توبا توبا! ووایه څه دې ویل؟

حنا ته ولې زما په راتګ دومره ور خطا شوې او هر ځل دې له پرون را هیسې همدا ټینګار کوو چې زه باید لغمان ته در نه شم؟

هېڅ خبره نه ده احمده راځه ښار کې به سره وګورو له دې خبرو تېر شه!

نااا حنا ووایه زه له پرون راهیسې سخت اندېښمن یم که یې ووایې ممکن زړه مې لږ ارام شي.!

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمده! تر دې دمه مې درته نه ويل ما ويل زه دې تر څنګ نه يم ته به راته ډېر زوريږې دا درې څلور ورځې کيږي سخته نا جوړه يم اوس مې هم شديده تبه ده پرون چې تا د راتللو خبره وکړه هماغه شېبه هم په خپلې کوټې کې په بستر کې پرته وم او سېرم مې لګولی و.

د حنا په دې خبره مې له مخ رنګ وتښتېده زړه مې سخته درځا شروع کړه.

ما د پېغام خونه کې ليکل کول چې ډېر بور را غږ وکړ ځوانه څنګه دې څاه ښکته او پورته شوه؟

په ټکني غږ مې ځواب ورکړ هېڅ خبره نه ده استاد بس هسې يوې خبرې ته ورخطا شوم ته دې مخې ته ګوره انشاالله خېريت دی.

حنا ته مې زر زر په وير جنو الفاظو داسې وليکل.

ای ای! قوارې وڅلې دې مخکې دا خبره نه کوله ما او تا له اوله نه و ويلي چې په هره سخته کې به د يو بل ترڅنګ يو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمده دا خبره دې منم ،هو ويلي مو ول خو په تااا مې خفګان نه و پېرزو ما ويل څه به مې خپلې ناروغۍ ته خفګان شي او څه به ستا غم شي زه به دې ترڅنګ نه يم او ته به راته زورېږې ځکه.

خو احمده اوس چې دې حرکت کړی کومه خبره نسته راځه زه به کور کې يوه بهانه وکړم او ښار کې به د څو شپبو لپاره سره وګورو.

سمه ده، خو حنا زخته زياته ښنه غواړم تا له اوله د خپلې ناروغۍ په اړه ونه ويل او ما ډېر تېنګار وکړ زياته ښنه غواړم ژوند مې خو که وايي زه به در نه شم کومه خبره نه ده خدای دې تاا ښه کړي بيا به سره وګورو.

نااا نااا احمده کومه خبره نسته په مينه کې هر څه راځي ته راشه کله چې ښار ته نږدې شوې پېغام يا زنګ را وکړه زه درځم.

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ای جیګرو مې زه کښ سره نږدې یم دلته مې شمېره هم کار نه کوي انتن يې يو فيصد دی ممکن اخوا کار ونه کړي.**

**تر څو مې چې پېغام پوره کوو فون مې انتن ورک کړ څو ځله مې ګول کړ او بېرته مې چالان کړ خو کار يې نه کوه زما پېغام هم ور ونه رسېده.**

**ډرېور ته مې مخ واړو استاد څو دقيقو کې به مرکز ته ورسيږو؟**

**ولا داسې خاص معلومات نشته روان يو ته هم ناست يې او زه هم ناست يم، خو که غالباً خبره وکړم نيم ساعت کې به ورسيږو.**

**خيااا خو استاد که لږه بېړه وکړې مننندوي به دې شم!**

**سمه ده خدای دې خبر کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوړ اسوېلی مې وکړ د لاس ګوتې مې په تندي را کش کړې د ټایپ غږ مې لږ ټیټ کړ زړه مې بې زوره و لکه ستړی مسافر چې له قافلې پاتې وي دومره ستومانه وم.

د کرن خان په خواږه غږ دغې سندرې ته ډوب فکر وړی وم.

راشه وګوره چې سرې سترګې مې نم دي که نه دي
په ګرېوان مې اوښکې څاڅي چې د غم دي که نه دي

همدا سندره لا خلاصه نه وه چې ښار ته نږدې شوم حنا ته مې وویل.

حنا زه ښار ته نږدې شوم خو ګرانې بیا یې درته وایم مه راځه کوم مشکل نشته!

نااا نااا زه درځم ته څو شیبې د عبدالله په چوک کې تم شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**[5/29, 17:45] Sadat:**
**د_لوړ_قدې_انجلۍ_د_ناول_اتلسمه _برخه😔#**
**وړاندې کوونکي🌹سترې اروا پوه🌹ک. کليوال🌺**
**#د_تېرې_برخې_اخري_ټکي👇**

**حنا زه ښار ته نږدې شوم خو ګرانې بيا يې درته وايم مه راځه کوم مشکل نشته!**

**#نوی_برخه👇**

**نااا نااا زه درځم ته څو شيبې د عبدالله په چوک کې تم شه.**

**د حنا له وېنا سره سم په عبدالله چوک کې وردېدم،له موټر ښکته کېدو سره سم مې د مشر تره زوی وليدم د موټر د کرايې ورکولو يې سخت ټينګار وکړ خو ځلې مې د هغه لاس ونيوه خو نه يې منله خو منې مې کړ او خپله مې کرايه ورکړه پخواني خلک يو ټپه کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مینه په تلو راتلو زیاتیږي**
**کله راځه کله به زه درځم مېنه**

**احسان همت یار مې د مشر کاکا په زامنو کې دویم زوی دی د ننګرهار پوهنتون په شریعاتو پوهنځي کې محصل و تر ډېره به زمونږ کور کې میلمه کېده نو ځکه سره خواږه و مونږ به چې هم کله لغمان ته تللو یا به مو همده ته یا د امه زوی مې پسرلی جان ته زنګ کوو او په ګډه به مو یارانو او تره زامنو سره تر نیمو شپو بنډار کوو.**

**د سرک په غاړه مو سره ښې کلکې غاړې ورکړې او په ولاړه مو سره ښه روغ بړ وکړ.**

**زه ور خطااا وم چې اوس د دې په مخ کې حنااا را نسي چې بل شرم جوړ نسي، کلک نښتی و چې ور سره لاړ شم خو زیاتې بهانې مې ورته وکړې ورته مې وویل چې دلته مې ښار کې یو ملګری دی هغه ګورم او غرمې ته درځم،په همدې خبرې سره یې پرېښودم او لاړ رانه په تلو تلو کې یې همدا**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ویل سې زه درته په انتظار یم وخته راشه چې بابا صیب زیارت ته هم لاړ شو.**

**له شا مې پسې وخندل،د خندا لامل مې دا و چې کله کله به مو په همدې خبرې کور کې انګوو سې لغمانیان چکر لپاره هم زیارت ته ځي هر اختر به چې مونږ لغمان ته لاړو نو دوي به مونږ ته چکر همدې بابا صیب ته راکوو نو ځکه مې پسې خندا راغله.**

**تر ډېر ځایه مې پسې وکتل چې هسې ناااا ومې نه ګوري فکر مې همااغه ته و چې موبایل مې لړزه وکړه زر مې ور وکتل حنا لیکلي ول.**

**احمده کوم ځای کې ولاړ یې؟**

**جانو ګک مې همدې چوک کې یم دا دوا خانې چې دي همدلته یم د شاروالۍ په مخامخ.**

**ښیاااا ښیاااا صبر شه زه دا دی در ورسېدم.**

**شبېبه تېره نه وه چې یوه هندي رکشه مې په سترګو شوه چې یوه دنګه د تورو جامو والا انجلۍ ترې را ښکته شوه، په بار بار مې ور وکتل اخوا دې خوا یې وکتل او زما په لور روانه شوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی ځل مې و چې له یوې انجلۍ سره لیدل کوم په هېڅ نه پوهېدم زه هم د هغې په لور روان شو کله چې سره نږدې شو له ځنګ مې همداسې بې خیاله تېره شوه تر شا یې یوه کوچنۍ انجلۍ هم روانه وه ځان سره مې وویل سې احمده بچو لکه چې شی دې غلط کړی او یا خو همدا حنااا ده ځکه قد او د لارې تګ خو یې سره یو شان دي خو بچېش دا انجلۍ ور سره څه کوي اسې نااا خپله لور یې نه وسي اوف احمدو بېړه دې غرقه شوه لکچې په واده کړې اوښتی یې.

ګچ ګول وم حنااا پېغام وکړ.

ولې ولاړ یې؟

ور زیاته مې کړه ای بدرنګې کوم ځای کې یې زه خو دې نه ګورم چېرته یې؟

قوارې دا تر ځنګ دې چې تورو جامو والا اجنلۍ تېره شوه امدا زه وم کنه!

توبه توبه ښیااااا ده ته وې؟

هو کنه ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هېڅ نااا د غوا لوري خلک خو ستړي مشي وکړي ته خو امداسې تېره سوې څه بلا يې.**

**سادګک مې مالې هسې نااا کوم څوک مې تر شا راشي ځکه خو امدسې تېره شوم،راشه زه د دغې ځنګ دوا خانې شاته ولاړه يم.**

**ښيااا درغلم خو اغه وړه انجلۍ دې څه کيړي چې در سره ده.**

**اوفف احمده دا وخت د پوښتنو دی زر راشه بيا يې درته وايم.**

**ښيااا پلاره نو غوصه ولې يې خو دغه دی درغلم.**

**ای احمده ته مخکې شه زه در پسې يم هغه مخامخ هوټل کې به سره کېنو.**

**سمه ده راځه.**

**حنا سره په چوک کې يوې جوس خانې ته لاړم د درې ام جوسونو فرمايش مې ورکړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د جوس تر راوړلو  مې حنا سره ډېرې خبرې وکړې دواړه لاسونه مې ورته کلک نیولي ول سختې تبې نیولې وه خو په مخ یې ځادري خوره کړې وه خو کله چې کارکونکو جوس راوړ ورته مې وویل.**

**د ملا صیب لوري ځادري خو دې لرې که ایما دې ورته زړه تنګ کړ اسې ناااا مړه شې اوس.**

**کله چې حنا له مخ ځادري لرې کړه هک حېران شو. له خولې مې هېڅ خبره نه وتله ځان او زړه مې دواړه په رپېدا شول یوه یخه سړه سړیکه مې په بدن تېره شوه رنګ مې هم هغه رنګ نه و پاتې په خپلو غټو غټو سترګو مې.**

**[5/29, 17:46] Sadat: # دلوړ_قدې_انجلۍ_د_ناول نولسمه برخه**

**وړاندې کوونکي🌹ستړی اروا‌پوه🌹ک.کلیوال🌺**

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګ مې هم هغه رنګ نه و پاتې په خپلو غټو سترګو مې

#نوی_برخه👇

د حنا په غنمرنګه څهره کې مې خپلې هیلې ولیدلې هېڅ مې باور نه راتله چې زه دې دومره بختور ووسم چې حنا غوندې یو انسان دې زما د مینې په نوم ورځې شپې سبا کړي او زما غم دې خپل غم وګڼي او زما خوښي دې خپله خوښي وګڼي.

ما لکه یو کلیوال چې ښار کې نوی شی وګوري او په لیدو یې په فکر کې پاتې سي کټ مټ همداسې شوی وم.

هېڅ نه پوهېدم چې څه ووایم زما پلان دا و چې زه دې د حنا تر مخ باید عادي حالات کې ووسم څکه په لومړیو کې بارکزي یو یادونه راته کړې وه چې احمده ګوره په مینه کې یوه خطاﺍﺍ چې وروسته سړی ډېر پښېمانه کوي هغه دا چې مقابل لوری په دې پوه شي چې ګواکې ته ورپورې خپل زړه تړې او بغېر له هغه هېڅ ژوند کولی نسې نو زما همدا خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذهن کې وه چې حنا ته باید عادي ووسم تر څو همدا فکر ونه کړي او سبا غرور ونه کړي خو نه پوهیږم چې ولې مې هغه هر څه هېر شول د حنا په لیدو بیبني بلې نړۍ ته تللی وم ذهن مې سخت زر زر د ډېرو کلنو مزل په څو شېبو کې را انځور کړ د حنا په سترګو کې مې ډېر څه ولیدل.

واده، ګډ ژوند، ما شومان او داسې پسې نور چې انسان یې تصور کله کله په ډېره اسانه کوي 😁

حنا یو دم غږ را وکړ احمده لاس دې راته زوبل کړ څه کیسه ده وه هلکه بیبني ډوب یې؟

شېټ مې ووهه زر مې د حنا له ګوتو خپلې ګوتې جلا کړې منځنۍ ګوتې مې څړیکه کړه چې ومې کتل د حنا د لاس په ګوتمې مې خپله او د حنا منځنۍ ګوته زخمي کړې وه. ببننه مې ترې وغوښته جب ته مې لاس کړ دسمال مې را وویست او د حنا له ګوتې او لاس مې تاو کړ.

ورته مې وویل.

نااا نا هېڅ نشته بس هسې مې یوې خبرې ته فکر وکړ.

چیشې ته دې فکر کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ناااا ناااا هیڅ نسته ته کیسه وکړه کنه اوس دې صحت ښه دی؟**

**شکر ښه یمه ته پخیر راغلې کورنۍ دې ښه وه؟**

**مننه ټول ښه ول تاسو طرف څه کیسې دي؟**

**ولا ژوند دی تېرېږي نو!**

**ای قوارې چې ناجوړه وې نو له اوله به دې ویلي ول دا شونډو ته دې وګوره پترکي یې کړي.**

**ما خو درته وویل چې ستا خفګان مې هیڅ په زړه نه ځایده یواځینی لامل یې همدا خبره وه.**

**ښیاااا سمه ده خو ګوره بیا داسې کار ونه کړې!**

**سمه ده احمده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غماز په اړه مې اوربدلي ول خو ليدلى مې نه و ما کوشش کوو چې حنا ځان ته را نږدې کړم خو په سترګو کې به يې اشاره کوله چې هغه ماشومه ډېره هوښياره ده.

په ډېرو چلونو مې د څو شېبو لپاره هغه ماشومه وويسته حنا ګک مې په دواړه مخ ښکل کړه او خداى پاماني مو سره وکړه خو په تلو کې مې د هغې ماشومې پوښتنه بيا ترې وکړه خو هېڅ يې ونه ويل هغه يې له ګوتو ونيوله او له جوس خانې ووتله، د جوسونو پېسې مې ورکړې او څو شېبې وروسته پسې ووتلم.

په چوک کې مې ډېرې سترګې وغړولې خو بيا مې هغه لوړ قد تر سترګو نه شو.

په عبدالله چوک کې په يوې رکشې کې کېناستم او خپل کلي ته تره کره لاړم.

کلي کې مې له کليوالو او تره زامنو سره ښه بنډار وکړ ماذيګر اذانونه شوي نه ول چې د کور د تللو تکل مې وکړ.

زياتره وخت به د ننګرهار له هډې ننګرهار ته نه تلم او چوک کې به موټر کې کېناستم نن مې هم د تېر په څېر چوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ځان په بېړه را ورسوه څو شېبې تم شوم هېڅ ډرېور مې په سترګو خوږ نه لږېده نو ځکه مې انتظار کوه.

سترګې مې اخوا دې خوا غړولې د عبدالله په چوک کې د جامع مسجد تر څنګ ولاړ وم چې هماغه استاد مې تر سترګو شو کوم سره چې له ننګرهاره راغلی وم، ور منډه مې کړه غږ مې ورته وکړ.

ائ،هئ، هئ،چیشت،استاد تاته وایم!

اووو احمدا ستړی مشې څنګه ورخطاا یې وه هلکه؟
مړه استاده په چیغو چیغو دې زما ستونئ په درد کړ.

خېریت دی چېرته روان یې؟

ننګرهار ته ځم استاد څه کوې ته نه ځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولا زه خو روان یم راځه کښنه.

بسم الله کړه چې پخېر زر ورسیږو.

بیا له هماغه استاد سره کښناستم په لاره لاره مې د حنا د ملاقات ټوله کیسه ورته وکړه سړي ته یې سخت خوند ور کړی و،خو یوه خبره مې چې په زړه لکه څک ولاړه وه هغه دا وه چې حناا ولې د هغې ماشومې په اړه راته ونه ویل؟

ایا هغه انجلۍ خو به یې لور نه وي، او یا کومه بله کیسه ده؟
لا سرخکانو ته رسبدلي نه و چې استاد جي د خپلې مینې په اړه راته شروع وکړه.

ویل یې احمده

[5/29, 17:46] Sadat: #د_لوړ_قدې_انجلۍ_د_ناول
شلمه_برخه👇

وړاندې کوونکې 🌹سیدادریس سادات🌺

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ویل یې احمده!**

**له هغه خوا مې زړه کېده چې د خپلې مینې په اړه درته ووایم خو ستا په څهره کې مې دومره حوصله ونه لیدله نو ځکه مې ځان غلی کړ.**

**خو زما د وروری یوه خبره واوره چې دا کارونه کومه ګټه نه لري، تاته مې ځکه دا خبره یاده نه کړه تا وویل سې لومړی ځل مې دی چې د هغې انجلۍ لیدو ته ځم خو دا ومنه چې د پخوانیو خلکو یوه خبره ما له تا مخکې یو کمیس زوړ کړی.**

**ستا کیسې ته څه نا څه همداسې زما د مینې کیسه هم لږ سره ورته والی لري.**

**ما مخکې د کابل جلال اباد پر لبن ډرېوري کوله یوه ورځ مې یو فامیل دربس کابل ته یوړ ډېره ښه کورنۍ وه په لاره لاره یې را سره ډېر په خوږه لهجه چلند کوو خو ما په نه زړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب ور کوه کله چې له موټر ښکته شولموبایل درې زما موټر کې پاتې شوی و.

زه هڅه کې وم چې موټر کې مې د موبایل د زنګ غږ شو مخ مخ مې چې ور وګرځوه شاته سیټ کې  د ښو ځای کې درې موبایل ولیدلی و را جګ مې کړ او شمېرې ته مې ځواب ورکړ د هماغې کورنۍ له غړو یوه انجلۍ وه ویل یې مونږ هماغه کورنۍ یو چې تا څو شېبې مخکې له ننګرهاره څخه راوړو، دا موبایل زما دی او ستا موټر کې راڅخه پاتې شوی دی که ته ځای را وښایې زه به درشمه دا به دې لوی احسان وي.

ځای مې ور وخوده زه تم ځای کې ورته ولاړ وم شېبه په شېبه به یې زنګونه را وهل خو ما ورته په بار بار همدا یوه خبره کوله چې زه چېرته نه ځمه که مې ستا موبایل نه درکوو نو له اوله مې شمېرې ته ځواب نه کوو خو راشه زه درته د عبدلحق څلور لارې ترڅنګ په فلاني تم ځای کې ولاړ یم.

کله چې راغله او زما صداقت یې ولید زخته ډېره مننه یې کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

موبایل مې ورته ور کړ په شیریني کې یې د پیسو د راکولو وړاندیز وکړ ما ورته وویل چې دا پښتون ولي نه ده چې زه دې ستا موبایل تاته در وسپارم او په بدل کې یې له تا پیسې واخلم هن دا ته او دا دې موبایل زه لاړم خدای پامان.

کله مې چې موبایل ورکړ همداسې ترې روان شوم له شا یې راپسې غږ وکړ د شمېرې غوښتنه یې وکړه.

په زړه مې ډېرې خبرې تېرې شوې خو خپله شمېره مې ور کړه.

ماذیګر قضا به و چې زنګ یې را ووهه سخته خوږه خوږه غږېدله خو که احمده ربښتیا ووایم زما له انجونو سره دا کیسې،ګیلې او اخوا دې خوا معاملې خدای راستي که خوښېدې خو نه پوهیږم چې دې انجلۍ ته مې څنګه دومره حوصله کوله.

خو وروره څه به دې سر په دردوم له همدې تېلفون بلا مړي مو اړیکه بیبښي سره کلکه شوه همدا ستا په شان یې زه هم د لیدو لیوال وم زړه کې به مې تل همدا کیسې تېرېدې را تېرېدې چې کله به سره جوړه چکر ته لاړ شو خو په دې خبر نه وم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مینه اول سړی پاچا کړي**

**د ملنګۍ کچکول بیا وروسته ور کوینه**

**یوه ورځ یې زنګ را وکړ چې نن ماښام زه او ته باید سره وګورو زه لغمان کې وم په موبایل مې ترې ډېر وپوښتل خو هېڅ یې خبره نه کوله ویل یې له نږدې چې راغلې زه او ته به سره خبره وکړو.**

**کورنۍ مې هم خبره نه کړه او په سره غرمه د کابل په لور روا شوم ماذدیګر ماښام به و چې ښار ته ورسېدم زنګ مې ور وکړ د ښار په یو هوټل کې سره کېناستو په لومړي ځل لیدو بیبښي بل ډول شوی وم اخوا دې خوا مې لکه غل کتل را کتل احساس مې دا و چې فقد نوی کابل ته راغلی ووسم 😁**

**سوړ اسویلی مې وکړ له ځان سره مې وویل احمده بچېش په ښه شي واوړېدې دا خو له تا هم غټ اشق دړی دی خو دا سړی له هغې خوا داسې نه و چې دا څنګه داسې شټاټ دی او ډېرې خبرې خبرې کوي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زړ مې په خبرو کې ور ودانګل.**

**استاد کیسه دې هېره نسي زړه دې څه دی یو سګرټۍ نه وهې را باندې؟**

**زما پلان دا و مالې د سګرټي په څښلو که ترې دا کیسه سبیل مړې هېره سي لږ به مې مغز ارام شي او د هغې انجلۍ په اړه به فکر وکړم.**

**د ډرونټې بند ترخڼک د سیند تر غاړې کېناستو، مالې ځاا شکر شی ترې هېر سو خو د ظالم بچي په لاسونو سګرټ ډکوه او په خوله یې کیسه بیا شروع کړه.**

**احمده وروره نو ته باور وکړه چې الله یو حسن ورکړی و چې مکوه پوښتنه خو راځم زما خبرې ته چې هېڅ ګټه نلري اخر وي که اول قسم که یې خپله کړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**که درته ووایم چې دا ښکلي نه دي دا ټول بې وفا دي خو بیا به هم باور نه کوې خو ځاا مخامخ به در معلوم سي بیا به زما دا خبره در یاده سي خو وخت به تېر وي.**

**خیاال استاد کیسه دې پاتې شوه څه وشول چې انجلۍ دې وکته.**

**هو هو رښتیا کله چې هوټل کې سره کېناستو په خبرو خبرو کې یې له سترګو اوښکې را روانې شوې ویل یې چې**

**[5/29, 17:46] Sadat: # د_لوړ_قدې_انجلۍ_د ناول یویتشمه برخه**

**پلارم مې ما د تره زوی ته ورکوي دا څو ورځې کیږي هغوي مونږ کره جرګې ته زما لپاره راځي، او زما مینه له تا سره ده زه خو له هغه سره واده نه کوم ستا پربکړه څه ده؟**

**هغه د ځینو خبره له یو خوا ډانګ له بل خوا پړانګ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زما کورنۍ زما د پټې مينې په اړه هېڅ خبر نه ول او دا زړه مې هم نه درلوده چې زه دې پردۍ لور په داسې طريقه يوسم چې پښتنه ټولنه يې هېڅ نه مني.**

**خو مجبور وم ځکه يوه انجلۍ دومره زړه کوي چې له ما سره دې د مينې په پار له کوره ووځي.**

**خو ورته ورته مې وويل.**

**ګوره ګرانې ستا د خبرې په اخر او اوله سم پو شوم چې ستا مقصد له دې خبرې څه؟**

**خو يوه خبره درته وکړم چې دا زختې تنګې او ننواتې لري زه هم پښتون يم او ته هم يوه پښتنه پېغله يې دا چاره به سمه نه وي که زه او ته سره له تښتېدو وروسته واده هم وکړو خو ژوند به مو هغه ژوند نه وي کوم چې زه او ته يې په خيال کې سره لرو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې خبرې مې ورته وکړې خو نه يې منله ويل يې زه نور نه پوهيږم هغه هلک مې خوښ نه دی نور چې ته هره لاره کوې هغه تا پورې اړه لري.

يو دم له خپل ځايه پاڅېده لکه يو جګړه مار سړی چې بل ته غوصه وي او اختار ورکوي هماغه ډول يې په تېزه لهجه وويل که هغه هلک ته يې ورکړم بيا که مې په ځان هر څه وکړل هغه به مې کړي وي.

ماښام قضا مې له هغه ځايه حرکت وکړ هډې ته نږدې مې د يو ملګري کور و هغه کره شپې پاتې شوم کورنۍ ته مې خبر ورکړ چې زه نن شپه نه راځم.

په ژوند کې مې دا لومړی ځل و چې ملګري کره شپې ته ځم دا مې په مينه کې لومړی کار و.

ټوله شپه مې همداسې په فکرونو فکرونو په ناسته تېره کړه له يوې خوا خپلې غريبې کورنۍ ته فکر وړی وم چې پلار، مور او ورونه به دا را سره ومني چې زه دې د هغوي له

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریکړې پرته داسې کار تر سره کړم چې زما کورنۍ دې سبا
په ټولنه او قام کې ښه یاده نه شي.

خو په یواځې ځان مې لویه فیصله وکړه او هغې انجلۍ سره
لاس په لاس شوم وعده مې ور سره وکړه چې دواړه به یو
بل نه پرېږدو.

څو څو ځلې د انجلۍ د کور له مخې مې ډېر ریباران وشړل
ان د تره زوی ته مې هم ورته ګواښ وکړ.

یوه ورځ مې خپله کورنۍ ور ولیږله کله چې کورنۍ مې بېرته
را ستانه شول سخت خوښ ول ما ترې وپوښتل چې خبره
څنګه شوه خلکو هو وکړل او که نه؟

مور مې د انجلۍ سخت صفت وکړ ویل یې زویه لا خو لومړی
ځل دی خو د کورنۍ رضا یې راته ښکاري چې هو ووایي خو
ګورو به چې څه خدای ته منظور وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخت خوښ وم د مور خبرو مې زړه لږ را ډاډه کړ.

خو له ورځو يوه ورځ يې زنګ را وکړ زه لغمان کې وم کله مې چې جواب ورکړ راته يې وويل چې يو لس زره روپۍ مې تر سبا پکارې دي.

ما ورته وويل سمه ده زه به يې وګورم.

مونږ له کوچني والي پلار خلکو سره دومره نه و پرې ايښي او نه مو له کلي ښار ته دومره تګ را تګ کوه،نو دومره اړيکه مې چا سره نه درلوده.

خو دومره ملګري مې هم ښار کې نه درلوده چې زه دې ترې پيسې د يوې ورځې لپاره وغواړم او د کلي خلک خو اسې هم پولۍ تږق ته ناست وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښار کې مې دوه نږدې یاران ول له هغوي مې د پېسو غوښتنه وکړه هغوي  وویل چې یوه ورځ کې خو نه کیږي خو که سبا بل سبا دې پکارې وي نو پېدا به یې کړو.

هغې انجلۍ چې کله سبا زنګ را وکړ چې پېسې دې څنګه کړې؟

ما ورته وویل زه خو ګرانې خپله له یوې غریبې کورنۍ څخه یم زما له وسه دومره پېسې پېدا کول پوره نه ول نو یو څو ملګرو ته مې وویل هغوي ویل چې نن خو نشته خو سبا یا بل سبا یې پېدا کولی شو سم له له لاسه د همدغو خبرو ورسته یې راته په قهرجنه لهجه وویل چې ته دومره پېسې پېدا کولی نه شې نو ما به څه وساتې نور زنګ را ونه وهې زه خو څه خدای وهلې نه یمه.

زما زړه نو دا و چې ځا دا خو مې مینه ده پاکه خبره به ورته وکړم چې ما سره پېسې نه وې او ملګرو مې دغسې خبره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زغرده جواب یې سخت خفه کړم ما هم ورته وویل چې.......دوام لري بله برخه هم شته

[5/29, 17:47] Sadat:
#د_لوړ_قدې_انجلۍ_د_ناول_دوه ویشتمه برخه

چې مینه تر مطلبه شوه دا تر منزله نه رسي.

خو دا خبره واوره چې زما په ژوند دې ستړې لوبې وکړې زه به دې په ژوند کې ونه ببښم او تاته وایم چې داسې کار له بل چا سره ونه کړې ممکن ډېر تاوان وکړې زه خو غریب انسان یم څه مې له وسه پوره نه دي او څه چې تاسو غوندې خلکو سره کول پکار دي هغه مې وجدان نه مني.

او هو استاد دومره ناځواني یې کړې؟

هو احمده کیسه مې درته وکړه دا خلک وفا نه لري نو ځکه درته وایم چې له دې کیسو تېر شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خو که استاد یوه خبره وکړم ستا کورنۍ په تااا خبره نه وه چې ته له هغې انجلۍ سره لېن او ډېن لرې خو زه بیا سم روان یې اغه په ساده اصطلاح کانګریټي کار مې کړی په تااا اغه انجلۍ خبره نه وه چې ته دومره غریب یې خو خالي ډربوري یې درته کتلې وه او زما کیسه بیا ښکاره ده هغه انجلۍ خبره ده چې زه د هندو شاګرد یم او ما ورته د خپلې غریبې هم ویلي.**

**څه ووایم احمده ما خو درته وویل نور ستا خوښه!**

**سګرټې نه یې لوخړې پورته کړې څادر ته یې ټک ورکړ په راسته لاس یې په چپه اوګه څادر واچوه او موټر ته پورته شو.**

**حرکت مو بیا ننګرهار طرف وکړ حنا ګک مسج را وکړ.**

**احمدو چېرته یې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلام ژوند مې لاره کې يم همدا شېبه له ډرونټې تونل تېر شوم کور ته ځم.

او ليونيه لا تللی نه يې تا خو ويل چې زه بېرته ځم چبرته تللی وې؟

هو ويلي مې ول خو ستا له ليدو مخکې مې ښار کې د تره له زوی سره مخ شوم هغه ډېر کلک شو څو شېبو لپاره کلي ته هم لاړم هغوو بيا غرمې ته هم تم کړم بيا مې ماذديګر قضا له هغه ځايه حرکت وکړ خو دا دی اوس رسيږم کومه د اندېښنې خبره نه ده.

سمه ده خو چې ورسېدې بيا خبر راکړه.

سمه ده خو ای قوارې کور کې خو درته کوم مشکل پېدا نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نااااا هېڅ خبره نه وه هغوي پر ما ډېر باور لري انشاالله هېڅ ستونزه نه ده ته بېغمه اوسه.

ښیاا ښیاا خو یوه پوښتنه کومه هغې ماشومې انجلۍ په اړه مې درنه ډېر وپوښتل خو تا ځواب را نه کړ اغه څوک ده؟

بدرنګو اغه مې خورزه ده ډېره نازولې ده زه چې هر ځای ته ځم هغه له ځان سره وړم ډېره خوږه انجلۍ ده او بله ده چې یتیمه هم ده نو ځکه پرې ډېر پام کوو او ټولو ته خوږه او ګرانه هم ده.

اوف سخت دې خفه کړم ولې په پلار یې څه شوي؟

احمده څه به اوس درته کیسه کوم سترې به هم یې خو لنډه دا چې پلار یې په طالبانو کی وو دنده یی درلوده یوه شپه یې پر اوتاق چاپه شوه جنګ شوی و او دا له څو نورو ملګرو سره شهید شوی و دا ترې د مور په خېټه کې یتمیه پاتې شوه خور مې اوس له مونږ سره ژوند کوي نو ځکه دا ډېره نازولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښیاا ښیاا رب دې هغه وبښي تاسو ته د زړه صبر دې انجلۍ ته زخت خفه شوم خدای دې رحم وکړي.

امین امین څه به وکړو داسې ډېرای ځوانان مو شهیدان شول ډېرای مورګانې بورې او خوېندې کونډې شوې د حسنا جانې په څېر داسې ډېر ماشومان یتیمان شول او د پلار له مینې بې برخې شول خو خدای دې هېواد کې روانه جګړه نوره ودروي او رب دې امن او سوله راولي.

امین خو حنا یوه خبره وکړم ما اوله کې داسې فکر وکړ سې دا دې لور ده په اول ځل لیدو یې سخت بې فکره شوم مالې خپر ببېره مې غرقه شوه😀

نااا قوارې زه لا وړه انجلۍ یمه.

سهي ده سهي ده له ما دوه کاله مشره یې سې خبره اوسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نااا ته د ډېر عمر يې اسې دې ځان ته تمه ده😁

ای ای استاد پام پام.

اه اه پښنه مې اوف خدايه😔

اخ اخ مورې سر مې😔

[5/29, 17:47] Sadat: :

#د_لوړ_قدې_انجلۍ_د_کتاب_درويشتمه_برخه😐

ای ای استاد پام پام.

اه اه پښنه مې اوف خدای

اخ اخ مورې

د دې درد ناکو څړيکو له کولو وروسته پوه شوی نه وم چې څه وشول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا پورته کړم ؟

چېرته يې راوړی يم؟

هېڅ پوه شوی نه وم په ټوله لاره کې مې سترګې خلاصې کړې نه وې بې هوښه وم.

کله چې په هوښ شوم په بستر کې پروت وم د خونې دروازې ته مې سترګې کړې کوچنی ورور مې عطاالله ولاړ و.

له بستر مې د جيګېدو کوشش کوه چې عطاالله را منډه کړه.

په سينه يې زور کړم او له جيګېدو يې منع کړم.

بېرته په ځای پرېوتم خو کله مې چې خپلې پښې ته فکر شو ور ومې کتل پښه مې په ګچو کې کلکه تاوه وه.

له عطاالله مې پوښتنه وکړ چې پر ما څه شوي؟

مشر تره مې د عطاالله پر ځای ځواب راکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمده زویه ستا په شمېرې ماذدیګر ماښام ماته زنګ راغی چې دې شمېرې والا ټکر کړی او د سرک تر غاړی پروت دی.

د ځای معلومات مې ترې وکړ او ته مې بیا دلته صحت عامې ته راوستې.

پېښه دې ماته شوی نور خدای خېر کړی انشاالله ښه یې اوس!

فکر کوم ته موټر کې چېرته تللی وې؟

د دې پوښتنې په اورېدو مې سترګو رپېدل شروع کړ پلار مې هم ولاړ و.

څو شېبې چپ پاتې شوم عطاا ته مې سترګو کې زیر زیر وکتل ځکه یواځې هماغه خبر و چې زه لغمان ته تللی وم او مونږ پلار ته دروغ ویلی نه شول مالې که زه دروغ ووایم هسې ناا وروسته له عطاا پوښتنه وکړي او یا پوښتنه یې کړې وي او هغه ورته ویلي وسي چې دا لغمان ته تللی و

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالې هسې نااا بې باوره شم ورته،خو په سترګو کې عطااا پوه کړم چې هېڅ خبره نه ده.

ورته مې وويل هو هو کاکا يو ملګري خواته ډرونټې بازار ته تللی وم چکر ته.

هو زويه ما هم له هماغه ځايه را پورته کړې، خو د شکر ځای دی چې خدای ساتلی يې.

مننه کاکا!

پلار مې هم څو خبرې وکړې، ټول اخوا دې خوا ودرېدل عطاا ته مې غږ کړ.

ای د غوا زو دې خوا راشه.

تيلفون مې څه شو چې د ورېندار پوښتنه دې وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نه پوهيږم لالا دادا وويل چې احمد سره جب کې هېڅ نه ول چا ترې لکچې ويستي دي.**

**ښااا راکړه خپل موبايل دی.!**

**هن هن واخله خو ګوره ټولې لس روپۍ پکې دي.**

**اې شوده ستا خو هر وخت موبايل کې پېسې نه وي.**

**سمه ده سمه ده فقد دوه پېغامونه کوم ورته.**

**کله چې موټر ټکر شو څو شېبې مې سترګو کار کو خو نور پو شوې نه وم چې څه شوي هماغلته په موټر کې دننه بې هوښه شوی وم فکر کوم کله چې خلکو له موټر ويستلم کوم خدا نا ترسه مې له جب شېان پټ کړي ول هغه پخواني خلک وايي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عالم په څه سبد عالم په څه😁**

**مونږ له مرګ او ژوند سره لاس او ګرېوان و او هغه غل ارم چوت رانه جب ووهه.😀**

**د عطاا له شمېرې مې حناا ته...**

**پلار او ترونو مې مشوره وکړه چې راته يې وويل سبا سهار به حرکت وکړو او پاکستان ته به دې يوسو نن شپه به دې د ترور خاوند ته زنګ وکړو چې سهار وخته طورخم ته راشي.**

**د دې خبرو په اورېدو سخت خواشينی شوم ځکه له حناا پرته زه هېڅ وم زړه او ځان مې هغې انجلۍ پورې تړل شوي ول بېلتون يې د ماهي ژوند ته ورته ول هغه دا مهال ماته اوبه ګرځېدلې وه او زه لکه ماهی وم.**

**خو بايد يو څه داسې بهانه مې جوړه کړې وی چې حناا دې پر ما پوه نشي تر څو زه بېرته له پاکستان راځم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زه پوهېدم چې پاکستان کې ممکن تر ډېر وخته شمېره تر لاسه نه کړم ځکه ملګرو به ویل چې هلته پرته له تذکیرې سیمکارتونه نه خرڅیږي او ما دا نه غوښتل چې د حناا تر غوښتو دې پر ما هر څوک خبر سي.**

**شپې نا وخت یې پیغام را وکړ.**

**احمده سلام!**

**احمده زمونږ د یوې نږدې خپلوانې کوژدن ده رابعه هم راغلې ټولې انجونې راټولې شوي او په ګډه له چمبې سره ټپې کوي رابعه او یوه د تره لور مې زما او ستا د مینې په اړه خبر دي زه د دیوال یوې څنډې ته ناسته یم هغوي په وار وار همدا ټپه کوي.**

**دا فلانکۍ مې د لاس ګوته**

**دا فلانکی پکې غمی کیږده زرګره**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خندا مې وکړه ورته مې وويل نو قوارې ته چيشې ته ناسته يې لاړه شه يو ځو لاسونه خو واچوه کنه!**

**هاهاهاها نااا احمده بده ده ناست خلک به څه وايي چې دا ژورنالسته وګوره او ګډا ته يې وګوره😃**

**د حنااا هره خبره يوه نړی سکون داره خبره وه فکر مې همدا کوه که زه له حنااا لږ لرې هم شم ممکن ناروغي مې لا زياته شي خو مجبور وم بايد تللی وی ځکه زما د سر خطر تر ډېره ډېر و.**

**خو شپې نا وخته مې ورته وويل**

**[5/29, 17:47] Sadat: #د_لوړ_قدې_انجلۍ_(ناول) ځلورويشتمه برخه**

**وړاندې کوونکي🌹سيدادريس🌹سادات**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حنااا ګک مې زه سبا ممکن له خپل تره سره پاکستان ته لاړ شم د هغه څه کار دی کېدای سي شمېره مې د څه مودې لپاره بنده شي دا خبره مې ځکه درته وکړه چې اندېښنه دې نشي.**

**احمده خېريت دی څه ته ځې؟**

**هېڅ هسې هغه وويل راځه چکر به درکړم تره مې بار بري موټر لري کېدای شي سبا يې څه بار کړي وي.**
**خو دومره وخت نه نيسي.**

**سمه ده احمده خو که دې د چا شمېره واخيسته احوال راکوه زه به حتماً په انديښنې کې ووسم.**

**سمه ده ليونۍ ته مه اندېښمنه کېږه همدې لپاره مې درته وويل چې سبا بيا اندېښنه ونه کړې خو ته چې دا خبرې کوې له تاا به زه زيات اندېښمن يم قوارې**

**خيااا سمه ده!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خو احمده د اندېښنې خبره ځکه کوم چې زه بغېر له تاا څوک لرم؟**

**خو يو ته يې چې زه دې په نوم او مينې ژوند کوم مخکې که هر څه و هغه فقد تاا پورې اړ ول او زه چې څه وم هغه ما پورې اړ ول خو اوس زه يواځې حناا نه يم او نه ته يو احمد يې ته په دې پو شه چې حناا اوس دوه برخې شوې چې يوه برخه يې ته بدرنګو او بله برخه يې دا خوش بخته حناا چې تاا لري.**

**سمه ده حناا همداسې چې تاا وويل زه هم اوس دا فکر نه کوم چې زه دې يواځې ووسم ستا شتون ډېر ډاډ راکوي خداى دې تاا راته لري.**

**ته دعاا کوه انشاالله خېر به وي.**

**سمه ده خو ګوره ځنډ ونه کړې کوشش وکړه چې زر له هغه ځايه راشې خو که زما منې مه ځه!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند مې ستا خبره هم سمه ده ضرور نه ول چې زه دې لاړ شم خو دا لومړی ځل دی چې تره مې رانه غوښتنه کړې که يې ونه منم ممکن خفه سي.

سمه ده سمه ده ای ژوند مې هېڅ مې زړه نه کيږي چې خدای پاماني درڅخه واخلم خو بايد ويده شې چې سبا ناجوړ نسې او لاره کې دې صحت خراب نسي.

ژوند مې ته هم ښه وايې زه به هم ويده شم چې سباا سهار وخته ځو او ته هم ويده شه چې سبا به پوهنتون ته ځې.؛

هو هو بيبښي سمه ده د اوس لپاره ښه وخت او ښه خوب زندګي مې.
زه دژ سبا سهار له خوبه را ويښنوم.

سمه ده ښه شپه ښه خوب!!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کله چې حناا سره مې خدای پاماني وکړه نه پوهيږم څه وشول يو دم مې له دواړو سترګو اوښکې را رواني شوې له ځان سره مې سخت غلی وژړل د حناا خبرو بيبنې په زړه نازک کړم همداسې مې سر په بستر او سترګې مې اوښلنې ويده شوی وم.**

**سهار د حناا په پيغام را پاڅېدم ساعت ته مې وکتل بيبنې وخته وه.**

**حناا ګک ته مې وليکل**

**اې قوارې لکچې ټوله شپه دې سترګې پټې شوې نه وې دومره وخته دې پيغام را وکړ؟**

**احمده که رښتيا ووايم هېڅ مې سترګې پټې شوي نه دي ټوله شپه مې همدا فکر کوه چې پرته له احمد به يوه ورځ څه څو شپبې څه ډول تېرې شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوففف قوارې مه مې زوروه زه خو څه په اوږود مسافرت نه
ځم سې بیا دې را نشم خو فقد څو ورځې به وي او بېرته به
روغ رمټ انشاالله راشم.

احمده ته خو وایي خو زه ډېر بد خوبونه وینم تېره ورځ مې
هم درته وویل چې هلکه په ځان پام کوه خو نه پوهیږم ته
ولې داسې کوې خو احمده ستا دا تګ راته څه ښه انځور نه
تر سترګو کوي چې څه به وشي؟

هېڅ خبره نه ده ته دعاا کوه انشاالله روغ رمټ به بېرته ستا
احمد ستا د سترګو په وړاندې بیا ودرېږي!!!

کاش کاش ژوند مې❤️

مونږ سره په خبرو بوخت و چې عطاا په پټو سترګو غږ را
وکړ لالا پلار وایي یو څوک دې پوښتنې ته راغلی را ویښ
شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښیاا ښیااا خو د غوا زو دلته راشه.؛

اوفف لالا خوب مې راځي دې شیت سهار کې بیا څه راباندې راغواړې؟!

لوده ګکه دلته راشه سخت راباندې خوږ ولګېدې چې ښکل دې کړم نظر نسې د غوا زو

امهم لالا نن څه خبره ده څنګه لکچې په راسه ډډه را پاڅېدلی یې

نوربیا..!!

[5/29, 17:47] Sadat: # د_لوړ_قدې_انجلۍ_(ناول)پنځه ویشتمه برخه

وړاندې کوونکي🌹سیدادریس🌹سادات🌺

هاهاهاهاها راشه راشه غېږ ته رورک مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عطاالا ګک سره مې نن سخته مينه وکړه بيا ژوند کولو ته مې بيښني تمه نه وه د حناالا په اړه مې ځينې سپاربښتنې هم ورته وکړې ځکه د سر عمليات تر ډېره خطرناکه وي ان د مرګ امکان هم پکې وي.

په ګوډه پښه له خپل ځای پورته شوم کله چې حجرې ته لاړم د کوټې په يو کونج کې هماغه استاد ناست و له کوم سره چې ما يو ځای ټکر کړی و.

زما په ليدو له خپل ځای را پورته شو او زما په لوري يې را منډه کړه زما لاس يې خپل غاړه کې واچوه او په قدم قدم يې د ناستې ځای ته يوړم.

په خندانه لهجه مې ورته وويل استاد زما خو بيښې هېر وې ته څنګه يې هو ربښتيا دا څه کيسه وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خپل د اوږې لونګک یې په خپل تندي را کش کړ، لستوني یې بډ وهل، وړه خندا یې وکړه، ویل یې احمده بلا وه، خو هغه د چا خبره برکت یې نه و، خو شکر چې ته خدای ساتلی یې.**

**نااا استاد هسې مې وویل ته خو به ښه یې ماته خو هغه صحنه داسې سمه په یاد نه ده.**

**احمده که درته ووایم زه زخمي شوی نه وم خو بې هوښه شوی وم خو کله چې ما سترګې را خلاصې کړې په بستر کې پروت وم ما ډېر کوشش وکړ چې د حادثې ځای ته همداغه شیبه ببېرته راشم ستا په اړه زخت اندېښمن وم خو چا اجازه را نه کړه خو زمونږ خپلوانو کله موټر راوړه هغوي ته چا ویلي ول چې یو بل کس هم له ډرېور سره و او هغه هم خلکو شفاخانې ته یوړ.**

**وروسته مې ستا په اړه ډېرې پوښتنې وکړې خو هېڅ کوم درک مې پېدا نه کړ خو هغه ورځ هډه کې یو ملګري ستاسو د کور ادرس راکړ ماښام نا وخته و چې له لغمان راغلم بیا مې له ځان سره اراده دا وکړه چې سبا به حتماً ستا پوښتنې ته درځم او اوس دا دی په شین سهار راغلم خو شکر دی چې خدای له مرګ ته هم ساتلی یې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

هاهاهاهاهاها مننه استاد کور ودان هېڅ خبره نه ده تاسو هسې ځان په زحمت کړ.

په همدې حال احوال سره لګیا و چې پلار مې غږ را وکړ.

احمده راځه چې ځو کاکا دې موټر را وړی چې نا وخته کیږي.

سمه ده پلاره درغلم.

له کور د وتلو په وخت کې زمونږ په کور کې چغې او شور شو ته واا تازه مړی شوی وي په چیغو چیغو له کوره ووتلم د کورنۍ غړي مې هم په همدې فکر و چې خدای خبر احمد به بیا ووینو یاا نه؟

له کور مو حرکت وکړ په لاره لاره مې حناااا سره ډېر پیغامونه وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګ مې سترګو سترګو ته کېده حنااا ته مې وویل

[5/29, 17:47] Sadat: # د_لوړ_قدې_انجلۍ_(ناول)
شپږویشتمه برخه

وړاندې کوونکي🌹سیدادریس🌹سادات🌺

له کوږ مو حرکت وکړ په لاره لاره مې حنااا سره ډېر پېغامونه وکړل.

مرګ مې سترګو سترګو ته کېده حنااا ته مې وویل.

حنااا که دې غمجنې ټپې زده وي په لاره لاره یې راته را لیږه!

سمه ده خو زندګي مې که ستا زده وي ته یې هم را لیږه داسې به دې زړه هم تنګ نه شي.

هاهاهاها ستا مطلب ټکۍ جنګي در سره وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هاهاها هو نو**

**خیاااا سمه زه یې اول وایم ته یې په بدل کې جوابي ټپه را لیږه**
**هاهاهاها سمه ده سمه ده ته یې پیل کړه.!**

**په رنځ اخته په بستر پروت یم**
**جانان مې ښه په حال خبر دی نه راځینه**

**حنااااا.**
**خدای دې د خولې لاړې دارو کړه**
**در تللی نه شمه دعاااا درته کومه**

**احمد.**

**مور ته رانجه په لاس کې نه وم**
**ستاسو ځځلې تر ډېرانه پورې وړمه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حنا!!!**

**په سر درنه لوپټه نه وم**

**درنې درنې خبرې ستا د دادا وړمه**

**احمد**

**راځه چې دواړه سره لاړ شو**

**یا به یاران شو یا به دواړه خاورې شونه**

**حناا!**

**په پلار مې بله جرګه وکړه**

**که در یې نه کړم بیا به ستا رځاا!ا کومه**

**احمد**

**لالیه پورته شه غږ وکړه**

**د ستر تبۍ دې ټکوم راغلی یمه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حنا**

**لالیه سترګو کې مې ته یې**
**چې د لېور کټ ته ورځم سترګې ترمه**

**هاهاهاها څه وشول حنااااا؟**

**احمد نور يې نشم ليکلی نور مې له ژړا سترګو درد وکړ**
**احمده خبر دی په ځان پام کوه!!!**

**او هو جان مې ما درته وویل کنه ته ببغمه اوسه او ای قوارې دا هر وخت د ژړا خبرې مه کوه دلته مې تره ناست دی بيا به وايي چې دا هلک لکچې زړه تنګی او ماشوم دی**

**وخانده ژوند مې دنيا غم ته نه ده خو دا چې مونږ یې په زوره په ځان سور تنور کوو دا زمونږ خپل لیونتوب دی زه شکر له رب کوم چې ستا غوندې یوه شهزادګی لرم چې زما فکر ور سره دی ❤️**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښااا سمه نه ژاړم خو چې ډېر ځنډ ونه کړې!!

نه يې کوم بابا ببړته انشاالله خپلې شهزادګۍ لپاره هم زر راځم.

ای احمده يوه خبره وکړم؟

هو هو جان مې خېریت دی کومه خبره!

احمده هغه ورځ دې د تره زوی زنګ کړی و.

ښيااا کوم تره زوی مې ځان يې معرفي نه کړ؟

ما خو ليدلي نه دي خو ويل يې احسان الله همت يار يم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښیااااا ښیاااا هغه ډېر ښه هلک دی ما ستا شمېره ورته ورکړې وه مالې زنګ ور ووهه. که څه کار دې و هغه در سره مرسته کوي.

سمه ده که و حتماً یې ورته وایم، خو احمده ډېر ښه ښه غږېده

هاهاهاها مطلب څه یې ویل؟

ویل یې زه د احمد د مشر تره زوی یم احمد ستا شمېره راکړه ویل یې دې شمېرې والا سره که هر ډول خدمت و نو مرسته وکړه نو وربندار همدا مې شمېره ده که هر خدمت و زه همدلته یم زنګ را ووهه زه در رسیږم.

مننه مې ترې وکړه خو ای قوارې دا وربندار تا ورته ویلي وو ایه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هاهاهاها نااا بدرنګې هغه شوخي در سره کړې او هو رښتيااا ولې وربندار يې کنه د هغوي**

**امممم وربندار**

**هاهاهاها خيااا سمده چې ته پرې خفه کېږې نور به يې نه وايي درته خو که هره خبره وه احسان ته زنګ ووهه هغه درځي.**

**نااااا احمدو مې نه خفه کيږم ښه کوي چې راته يې وايي زه خو اوس هسې هم ستااااا يم**

**ای حنااااا ته صبر زه بېرته پېغام کوم صبر صبر څو شېبې!!!**

**احمده څه وشول؟**

**احمده ځواب را څه خبره ده؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمده تاته وایم خبره دې ونه کړه څه دي وه هلکه؟

نوربیا..!!

---------------

[5/29, 17:47] Sadat: # د_لوړ_قدې_انجلۍ ناول اووه ویشتمه برخه

وړاندې کوونکي 🌹سیدادریس سادات🌺

ببننه غواړم حنااا د تره زوی مې زنګ کړی و هغه سره مې خبرې کولې.

اوف اوف احمده هر ځل په ور خطایې خدای پاماني کوې او زما خبرو ته ځواب هم نه راکوې بیا

قوارې خو دلته مې خبرې کولې کنااا ستا په اړه یې ویلې چې زنګ مې ور کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیااااا خیاااا کوم ځای ته ورسېدي؟

په کرار کرار روان یو انشاالله غرمۍ مهال به ورسیږو اوس لا لاره کې یو، ته دې درسونو ته فکر کوه.

سمه ده زه هم پوهنتون ته نږدې یمه چې کله رخصت شوو که شمېره دې خلاصه و بیا خبرې کوو ته تهدې په ځان دې پام کوه.

ای زندګي مې له پاکستان څه درته راوړم ته څه نه غواړې له خپل احمدو دې؟

ژوند مې دا چې ته پخېر لاړ شې او پخېر راشې دا ماته هر څه دي.

زه له تااا هېڅ ډالۍ نه غواړم ته د رب له لوري ماته له هر څه بهتره ډالۍ یې زه هېڅ ډالۍ نه غواړم بس صرف تااا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړم زه مې خپل احمد تر هرې ډالۍ بهتر ګڼم لب یو احمدو احمدو مې❤️.

حنااا ته مې په لومړیو کې ویلي ول چې زه پوهنتون هم وایم دا خبر مې ځکه کړې وه چې د اړیکې مو لومړۍ څو ورځې وې فکر مې د دې خبرې په اړه دا و چې شاید حنااا خپل ځان ته ورته تعلیم کړی محصل ځوان خوښ کړي ځکه  تعلیم کړي انجونې ټېټو تعلیمونو والا هلکان نه خوښوي هر وخت به مې دې خبرې ته فکر و چې له خولې مې په دې اړه کومه خبره حنااا ته ونه وځي چې هغه دې بیا د پوهنتون پوښتنه وکړي خو هغه ځینې خلک متل کوي چې.

خپله ژبه هم کلا ده هم بلا

دې خبرو ته مې هېڅ فکر نه و ماورته ولیکل.

هاهاهاها دا لف یو څه ته وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هو بدرنګو لومړی ځل دی چې په ښار کې د لوی شوي او محصل ځوان له خولې دا خبره اورم چې لف یو څه ته وایي

هاهاهاهاها د څه محصل؟

قوارې ته پوهنتون کې نه یې تااا خو وویل چې زه محصل یم.

حنااااا ډېره ښننه غواړم دا خبره مې تر ننه پټه کړې وه خو اوس چې خبره شوې درته یې وایم.
زه له ښونځي فارغ یم خو لا مې پوهنتون شروع کړی نه دی.

احمده نو ولې دې شروع نه کړ په تااا خو وخت تېرېږي.

حنااا مونږ ډېره غریبه کورنۍ یو که درته کیسه وکړم ممکن ستا د پوهنتون تر رخصتېدو هم خالاصه نشي خو لنډه یې درته داسې وایم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله زه او مشر ورور مې له ښوونځي فارغ شو د څه مشکلاتو له امله مونږ لغمان ته کډه شو حنااا له تااا دې څه پټه وي پلار مې د زړه تکلیف پیدا کړ مونږ له کوچني والي ان د ښوونځي تر خلاصېدو پلار کار ته پرې ایښې نه و خو داسې ژوند مو هم نه دی کړی لکه څه ډول چې د ژوند کولو او درس ویلو معیار وي.

په هماغه وخت کې چې زه ښوونځي کې وم کله به مې کتاب نه و کله کتابچه خو خپله بېړۍ مو پر مخ روانه کړې وه او په کمو امکاناتو به مو بسنه کوله خو دا ماته مو ونه منله چې مونږ دې ښوونځی د غربت له امله پرېږدو کله چې د پلار له مریضۍ وروسته لغمان ته لاړو هلته د یو تره کور کې میشت شو مونږ کله کار کړی نه و او پلار مې له ناروغۍ کړېده هماغه ورځ وه چې د کورنۍ درد دې ته اړ کړو چې لاس دې پولۍ کړو او نور دې ملا کار کولو ته وتړو.

زه او مشر ورور مې په کلي کې له یو موټروان سره په دې بوخت شو چې په ورځ کې دې په سل کلدارو یو موټر تېږه له سیند بار کړو هره ورځ به مو همدا ډول څلور پېنځه موټرونه بارول کوچنۍ ورور مې له مونږ جلا په ننګرهار کې زرنج چلوو همدا ډول مو ژوند یو څه روان و خو چاره مو نه کېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورځ مې یو ملګري زنګ را وکړ چې احمده راځه په ننګرهار کې مې درته کار پیدا کړی کله چې زه له لغمان راغلم دلته یې له همدې هندو سره په دوه سوه کلدارو شاګرد کړم.

----------------------

ما په تود لمر کې د تیږو کار کړی و دا راته څه اسانه ښکاره کېده خو داسې هم نه ول مطلب مې په درمسال کې کار کول هم ستر هنر او حوصله غواړي هغه د چا خبره چېرته خپل سری کار او چېرته د بل تر واک لاندې خو مجبور وم هره سخته مې زغمله د ورځې لخوا به دوکان کې وم او شپې به بابا کره تللم غربت بیبني له کور لرې کړي و ټوله کورنۍ مو شیندل شوی وه پلار مور او کوچني ورونه مې لغمان کې ول زه او یو بل ورور مې دلته په کار اخته و نو ځکه را څخه د پوهنتون ویل پاتې شول خو که ژوند و او له پاکستان پخېر راغلم انشاالله شروع کوم یې خو ای قوارې ستا په خوښه به پوهنځی وایم هر پوهنځی چې ستا خوښ و هماغه هماغه وایم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**احمده سخته دې خفه کړم له سترګو مې بې واکه اوښې راغلې😓**

**ژوند مې❤️**

**مینه زړه پورې ترلې وي نه د یو انسان تعلیم پورې، او نه پیسې پورې.**

**احمده ته زما ژوند کې د انسان په جامه کې یوه فرښته یې احمده تااا راته ژوند کول زده کړي احمده تااا په دې پوه کړې یم چې انسان ته دې په کومه سترګه وکتل شي احمده ته پوهیږې تااا یو مات وجود را جوړ کړی نو ووایه له دې نور څه زیات وغواړم**

**کور ودان حنااا خو ما دروغ درته ځکه وویل چې ممکن ته زما غوښتنه په دې خاطر رد کړې چې زه پوهنتون کې نه یم او ته یو محصله یې زما په فکر کې داسې ول چې ته به هم د نورو انجونو په څېر د خپل ژوند ملګری داسې کس وټاکې چې تا سره یې تحصیلي درجه برابره وي او مالداره وي نو ځکه خو ښښنه غواړم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمده د غریبۍ او پېسه دارۍ خبره خو پام بیا ونه کړې او د انجونو په اړه دې وویل زه له هغو انجونو نه یم چې دوه مخه دې ولري او د هلکانو په احساساتو دې لوبې وکړي او د څو پیسو لپاره دې ورته جانان او قربان وکړي خو دا په یاد لره که زه مړه هم یم یواځې په ژبه به مې ستا د مینې ذکر وي زه پښتنه یم او پښتانه هېڅ وخت له خپلې ژبې نه اوړي ستا دا غربت ماته له ډېرو پیسو محترم دی ستا د ختو کور زه په محلونو نه ورکوم ته زما احمد یې او زما احمد ماته شهزاده دی.

هاهاهاها قربان هغه ستااا خبره لف یو ❤️

#یادونه :  دا ناول چی لیکوال نامعلومه   دی تر همدی ځایه راعلی نوری برخی هم لرم خو وس لپاره نشته له ټولو څخه هیله کوم چی په زړه غټه تیره ګیږدی که ژوند وو انشاالله نور ناولونه هم راسره سته هغه ته په تمعه سی

زه به همیش دا کوشش کوم چی تاسی دلته ښایسته ناولی ولولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**او چی کله دا ناول پاتی برخی راغلی نو اول به یی تاسی لولی**
**په دی هیله چی خفه شوی نه وی**

**ستاسی ورور سیدادریس سادات**

**https://chat.whatsapp.com/KwBk2N7x2EzKdT3L9ENDu9**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**